مورچل

کرزی ولې دومره نهیلی شوی ؟!

اووم کال دویمه ګڼه، پرلپسې ۵۴ ګڼه، فروري ۲۰۱۳م

پر امام ابوحنیفه رحمه الله د محدثینو د نیو کوشننه او څېړنه

د استشهادي بریدونو په اړه دالازهر پوهنتون د شیخ فتوی

معیار حضرت عمر رضي الله عنه در انتخاب والیان و کارگزاران

دمنځنۍ اسیا دهیوادونو بې ځایه اندېښنه !

موقف بجای علماء دینی در هر کشور که باشد قابل ستایش است

له هلمنده یرغلګر په تیښته دي

دخونکار شیطان مړی !

الهي لارښوونې

قال الله تعالى: ذَٰلِكُمْ وَأَنَّ اللَّهَ مُوهِنُ كَيْدِ الْكَافِرِينَ (18) إِنْ تَسْتَفْتِحُوا فَقَدْ جَاءَكُمُ الْفَتْحُ وَإِنْ تَنْتَهُوا فَهُوَ خَيْرٌ لَكُمْ وَإِنْ تَعُودُوا نَعُدْ وَلَنْ تُغْنِيَ عَنْكُمْ فِئَتُكُمْ شَيْئًا وَلَوْ كَثُرَتْ وَأَنَّ اللَّهَ مَعَ الْمُؤْمِنِينَ (19) الانفال

ژباړه: اودا [دمجاهدينو بری اودکفارو ماته] له دې املې ده چې لوی خدای جل جلاله دکافرانو تدبیرونه ویجاړوي ، [اوای کفارو] که تاسو په مؤمنانو بری غوښتی دادی تاسو ته موستاسو په هلاکت بری یعنې خلاصون درکړی ، که تاسو دمؤمنانو له مقابلې اوجګړې څخه لاس واخلئ نوداستاسو په ګټه ده ، اوکه بیا دمؤمنانو مقابلې ته راوګرځیدئ نومونږ به هم راوګرځو ، یعنې مونږ به هم بیادمجاهدینو مرسته وکړو ، اودوئ ته به خپل مدد راولیږو چې بیابه له تاسو نه داستاسو سترستر لښکر هیڅ دفاع ونه کړي ، که څه هم دغومره نور شي اوداځکه چې لوی خدای دمومنانو ملګری دی .

مورچل

اووم کال دویمه ګڼه، پرلپسې 54 ګڼه فروری 2013م

دمضامینو لړلیک

ګڼه	مطلب	مخ
1	کرزی ولې دومره نهیلی شوی.....	2
2	دمنځنۍ اسیا دهیوادونو بې ځایه اندېښنه.	4
3	اسلامي غزوات.....	7
4	میثاق مرګ با امریکا.....	13
5	دسعودي دمفتي صیب فتوا.....	18
6	دشمالي کوریا کامیابه اتومي تجربه.....	19
7	معیار حضرت عمر ● در انتخاب والیان.	22
8	پر امام ابوحنیفه رح دمحدثینو دنیو کو....	24
9	له هلمنده یرغلګر په تېښته دی.....	33
10	دتوحید علمبرداران.....	36
11	داستشهادي بریدونو په اړه دمصر د.....	39
12	دخونکار کایل شیطان مړی.....	43
13	ذبیح الله مجاهد څوشېبې له خپل ولس...	44
14	پوهنتون مسیحی کابل.....	48
17	هغه صفتونه چې سړي یې په مېرمنو کې...	54
18	عامل کشتار افراد ملکی اشغالګران.....	56
19	بریتو که بریتور.....	57
20	نهه کلنه انجلۍ له واده پر ته مور شوه.....	58
21	تېره میاشت په لسو ولایاتو کې30 تنه....	60
22	ملت افغان کیها را محاکمه خواهند کرد..	62
23	دامارت پیغامونه.....	66
	جنګي جنایتونه.....	69
	دمورچل وړمې.....	68
	میاشتني خبرونه.....	75
	انځوریز مورچل.....	
	د تلفاتو میاشتنی جدول.....	128

میاشتنۍ، علمي، سیاسي او جهادي خپرونه

دامتیاز خاوند:

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګی چارو کمیسیون

مسؤل مدیر:

شکور (شفق)

کتنپلاوی:

حسن خېل، ایوب صافی،
حسن زوی، حکمت بغلانی،
زبیر مسافر، حافظ سعید

تخنیکي همکاران:

ارغـــوان ـــ صابر

ادرس او مکاتباتي پته:

پته: کابل ښار څلورمه حوزه
مجلې دفتر

E-mail: baakhtaraf@yahoo.com

بسم الله الرحمن الرحيم

سرمقاله

کرزی ولې دومره نهیلی شوی؟

امریکایان چې کله د اسلامي امارت د مجاهدینو سره تر دوولسو کالو پرله پسې جګړو وروسته د بري پرځای د تاریخي ماتې په پولو ودریدل او په نړیوال کچ له رسوایي او شرم سره مخ شول ،نه د کرزي په مشري د مزدوري اداري لکونو عسکرو د ماتې له برخلیکه وژغورلای شول اونه هم کمونستو ملیشو او پلورل شویو توپکوالو امنیتي کمربندونو وکړای شول چې د امریکا ډوبه شوي بیړۍ دنجات ساحل ته وباسي ،بلکې دې پلورل شویو عناصرو د بې خرته ډالرو د خورجینونو په ترلاسه کولو سره صرف دومره مرسته ورسره وکړه چې د خپلو ناسمو راپورونو په ورکولو سره یې پر یرغلګرو بې ګناه افغانان شهیدان اودوئ (امریکایان) یې نړیوالو ته بشري جنایتکاران وپیژندل.

اوس چې امریکایان او ګردلویځوال پدې پوهیدلې چې د کرزي اداره او پکې راټول شوي تجزیه طلب او پردې پال عناصر نور د مجاهدینو د مقاومت وس نلري ،د هیواد اصل ځواک یوازې طالبان دي او همدوئ به وکړای شي چې هیواد کې یو داسې غښتلی حکومت جوړ کړې چې ټول افغان مسلمان ولسونه پکې راغونډ شي او هم د ملوک الطوایفۍ او (انارشیزم) پرځای به یوه مرکزي هسته رامنځ ته کړي ،نوځکه دوئ د زهرو په ګوټ سره د اسلامي امارت د حقانیت او قوت په باب ډاګیز تنازل ته ځانونه اړیستل او د قضیې د اصل جهت په توګه یې د طالبانو په مشرۍ اسلامي امارت ومانه خودې کار کابل کې ناست غلامان هیښ او ځمکه پرې سره شوه .

هلمند کې د کرزي وروستۍ ځرګندونې او د امریکایانو خلاف تونده لهجه کارول د دې نهیلیو جوت انعکاس دی. مطبوعاتو د کرزي له حیرت نه د کې ځرګندونې پدې متن نشر کړي چې: حامد کرزي د مارچ ۱۲مه یو ځل بیا له بهرنیانو سره د طالب مشرانو پر خبرو نیوکې وکړې او وې ویل چې په بهرنیو الوتکو کې لویدیځو هیوادونو ته سفرونه کوي او په افغانستان کې په ځانمرګو بریدونو سره امریکا ته د خپل زور نبودنه کوي.

هغه وویل، چې طالبان د پاریس په هوټلونو کې له لویدیځوالو سره چای او چاکلیټ خوري خو په افغانستان کې بیا په ځانمرګو بریدونو ماشومان، میرمنې او ځوانان وژني.....

دکرزي له پورتنيو اظهاراتونه دگوډاګي. اداري دويري او خوف کيفيت ښه څرګندیدای شي او له خپلو بادارنونه يې دنا اميدۍ جايزه ښه اخستل کيدای شي ،اودا ځکه چې هغه بدنامې څېرې افغان ولس ته ښه معلومې دي چې شپه او ورځ له لويدځو الوسره دخپل هيواد په سودا بوخت دي او هغه څوک هم تري پټ ندې چې په لويديځو چاکليټونو ،شرابو او کباب روږدي دي او دځان په باب له ولسي محاکمې له ويرې پرې دشپې خوب حرام شوی .

ددې اعتماد افغان مسلمان ولس سره شته ،چې د اسلامي امارت د سياسي کمسيون غړي به لويديځو الوته داوسنۍ مزدورې اداري او وطن فروشانو په څېر د افغانستان دپلورلو ،تجزيې او اوسنۍ ديموکراسۍ غوندې قباله ورنکړي اونه به ددومره شهيدانو له وينو سره دتېروتو پکوالو په څېر خيانت وکړي.

دلويديځوالو په دسترخوانونو ناست عناصراو ددوئ دچايو او چاکليټونو خوړونکې څېرې هغه څوک دي چې دانن يې هم دظلم او ستم لاسونه دخپل ولس دښځو ،ماشومانو او سپين ږيرو په معصومو وينو سره دي ،ددوئ په لمسون اومرسته د افغان ولس يې ګناه وګړي دامريکايي خونکارانو له لاسه په وينو کې ليت پيت پراته دي ،خو داجنابان دکابل په قصرونو کې دلويديځ په شرابو او کباب له مستۍ نه رقصونه کوي او د افغاني پيغلو ناموس دډالرو په بدل کې په خارجيانو پلوري.

همدا اوس طالبان د اسلام وطن او دخپل ولس دناموس ددفاع په لاره کې دوينو نذرانې ورکوي او دقصرونو دهوا اوهوس پرځای په بارود وپوښل شويو مورچلونو کې يرغلګروته کمين کې ناست دي، خوګوډاګيانو ته ددومره نوازش سربيره بياهم ښکاري چې نور دکابل لاسپوڅي له خپلو بادارانو نهيلي شوي، نو ځکه يې په اوتوبوتو ويلو پيل کړی.

حامد کرزی دکمونست نجيب سره بيلګه کيدای شي چې هغه هم دده په څېر چې کله نور له روسي بادارانو نهيلی شو نويې د اډول الزامات او اظهارات پر مجاهدينو واردول، خو دادی ومو ليدل چې هغه نن د تاريخ يوه هيره صفحه شوه او اوس يې ديوه اسلام فروش او وطن فروشه تش په نوم افغان په نوم دنسلونو قضاوت ته پاتې شو، ښايې کرزی هم دده په څېر نوردنا اميد يو برېښکيو پسې راځستی وي اود تاريخ داسې يو ه داسې بدنامه صفحه شي.

بارولرو چې د اسلامي امارت رغنده پاليسي ديوه شرعي نظام او خپلواک هيواد ځلانده پيغام له ځانه سره لري او ددې پيړۍ د(تورې امپراتورۍ) دفاحشې ماتې ويار خپل دی !!

وماذالک علی بعزیز

دمنځنۍ آسیا دهیوادونوپې خایه اندیښنه!!

شکور شفق

اوس چې دنا ټودغړیوهیوادونوکډې په
باریدودي اودځښتن تعالی په مرسته یې دافغان
مجاهدولس په بې ساري قربانیوبې دغرورمانی
په نړیدواویرغلګرلښکریې دشکست په مورګو
ولاړدی ،دافغانستان دمستقبل په اړه آندونه او
حدسونه هم لا له وخته مخکې په
مختلفوبڼومطرح کیږي ،ځینې خلک دطالبانوپه
مشرتابه داسلامي نظام واکمني یونیک فال
بولي اوپدې خوښ دي چې دې هیوادکې امنیتي
بنسټونه ورغول شي اویوبیلګه مسؤل نظام چې
دافغانانودعقایدویوښه تمثیل وي ددې فاسدې
اومزدورې اداري پرځای واګي لاس کې واخلې
،خوځینې نورییادبې بنسټواندیښنوبرېوکیو
هواته جګ کړي اودطالبانوفتحه یې غونی
ځیګوي ،دمذهبي ،سمتي ،منطقوي
یانورونامو جهودلایلوله مخې دطالبانوفتحه
اودامریکانوتاریخي ماتې نشي زغملای اودبې
اساسه وجوهاتوپه بنسټ داندیښنو ،خوف
اوهراس په نیلې سپاره شوي اودنیاکې یې
دطالبانودخطرناک معرفي کولولپاره نغاړې
تنګول پیل کړي.
د یوې لسیزې نه دزیاتې خونړې مودې له
تېریدووروسته چې هرچاسره دا اسره وه چې
دالویدیځ یرغلګرپوځ مولهیواده ووځي اونه
یوازې افغانستان بلکې دسیمې ټول ګاونډیان
یې له شره په امان کې پاتې شي له نیکه مرغه
چې داکاریوازې طالبانووکړای شواوهمدوئ
دخپلووینوپه قیمت په فدایي ګوزارونودوخت
ددې فرعوني طاقت ملا ماته کړه او ګردې سیمه
ایزې پرګنې یې ددې شریرځواک له شره
وژغورلې.
خوزمونږولس داسې احساسوله چې زمونږپدې
خوشحالي کې به راسره ګردګاونډیان برخوال
وي اوټول به ددې لویدیځو اشربانوپه وتلو
زمونږغوندې خوښ وي ،ځکه ددوئ داستعمار
پلان ډیرپراخه اویوازې افغانستان نه بلکې
دچین اومنځنۍ آسیاپه ګډون یې دایران غوندې
سیمه ایزهیوادونه هم ترخپل جغ لاندې راوستل
، چې له ښه شامته دامریکااوناټودا شغال جال
طالبانووشلاوه ،دافغانستان دولس غوندې
تړې دسیمې دنورو هیوادونوولسونه هم خلاص
شول ،داداسې وولکه څنګه چې دوه لسیزې
مخکې دپخواني شوروي اتحاد
د(توروا وبو)پورې دنړۍ نیونې استعماري جال
دافغان مسلمانولس په قربانیوشلیدلی اوله
شره یې دسیمې دهیوادونوغوندې امریکایان
هم خلاص شول.

دې حقایقو ته په پام سره زمونږ دولس همداسې تمه وه چې د سیمې هیوادونه به د افغان ولس ددې پیړۍ دا دوهمه فتحه او په تش لاس ددې دوولو یو امپراتوریو ماتول نه یوازې په سیمه ایزکچ بلکې په نړیواله سطحه استقبال کړي او د امریکا د پراختیاله ویرې مرعوب ولسونه به مو توده بدرګه وکړې ،له بده مرغه چې وروستې مطبوعاتي راپورونه داسې ښیي چې ګوندې د منځنۍ آسیا ځینې هیوادونه اندیښمن دي چې د ۲۰۱۴ کال له فتحې وروسته چې د ناټو یرغلګر عسکر به شرمیدلې له هیواده تښتې ((افغانستان به سیمې ته کوم خطرناک هیواد ثابت شي ....ددوئ په آندونو افغانستان به د مخدره موادو ،جهادي تحرکاتو په څېر د نورو پارونکیو اعمالو د صادراتو په مرکزو اوړي او د منځنۍ آسیا خلک به ورسره تنګ شي ،چې ددې ډول اندیښنونه رسنیو داسې تعبیر کړی چې د امریکایانو په ډاډ هم ددوئ دستونې نه دویرې خپسه نده پورته شوي:

د ډله ایز امنیتي تړون د ټولنې غړي هیوادونه له افغانستانه د نړیوالو ځواکونو د وتلو له کبله له افغانستان سره د خپلو هیوادونو د پولو د ټینګولو لپاره په دغو پولو کې نور ځواکونه ځای پرځای کوي.

د ډله ایز امنیتي تړون عمومي منشي دا څرګندونې په داسي حال کې وکړې چې د فرانسې ولسمشر له خپل روسي ساري سره له افغانستانه د فرانسوي پوځیانو د ایستلو پر مسلې د خبرو لپاره مسکو ته روان دی.

د ایترتاس خبري اژانس د راپور له مخې د ډله ییز امنیتي تړون عمومي منشي نیکولای بوردیوژه وویل: «د ناټو د ځینو استازو له ډاډ څرګندونو سره سره، موږ باور لرو چې د افغانستان حالات ډېر ستونزمن دي او پر له پسې د خرابېدو په لور روان دي.»

ده زیاته کړه، افغانستان د مخدرو موادو د قاچاق، د سخت دریځو وسله والو د روزنې، افراطیت، بې ثباتۍ، وسله والې جګړې او د سخت دریځو د نظریو د اغېز په شان ستونزو سره مخامخ دی.

د بوردیوژه په وینا کله چې د ۲۰۱۴ کال په پای کې د ناټو پوځیان له افغانستانه ووځي، د دغه هیواد ستونزې به نورې هم زیاتې شي.

خو د جنوبي او منځنۍ اسیا په چارو کې د امریکا د باندنیو چارو مرستیال وزیر رابرت بلېک د چهارشنبې په ورځ د کانګریس یوې کمېټې ته وویل چې له افغانستانه د منځنۍ اسیا په تېره بیا ازبکستان ته کوم خطر نه دی متوجه

«موږ منځنۍ اسیا ته د اسلامي سخت دریځو له لوري کوم فوري خطر نه وینو، خو بې له شکه د خوش باورۍ وخت هم نه دی. زموږ د بهرنیو مرستو پروګرام د دې لپاره دی چې د منځنۍ اسیا هیوادونو طرفیت لوړ کړو چې د اسلامي سخت دریځو ډلو په شان له موقتي خطرونو سره مقابله وکولی شي.»

د ډله ییز امنیتي تړون عمومي منشي نیکولای بوردیوژه د ډله ییز امنیتي تړون له غړیو هیوادونو وغوښتل چې د ۲۰۱۲ کال د دسمبر په نولسمه د مسکو په سرمشریزه کې د ډله ییز امنیتي تړون د غړیو هغه ګډې هڅې تصویب کړي چې له افغانستان څخه د ګواښونو او ستونزو د مخنیوي لپاره وړاندیز شوې وې.

د ده په وینا په دغو وړاندیزونو کې له

افغانستان سره د ډله ییز امنیتي ترون د غړیو هیوادونو په پولو کې د پوځیانو ځای پر ځای کول، د وسلو او وسایلو ښه کول شامل وو.
دا اندیښنې پدا سې وخت کې رسنیوته راوځې چې د اسلامي امارت رسمي منابعو په وار وار په رسمي ابلاغیو کې د سیمې هیوادونو ته باور ورکړی چې که اسلامي امارت واک ته ورسید، نو ددې اجازه به چا ته ورنکړې چې د افغانستان خاوره د کوم ګاونډي هیواد په وړاندې ضرر ناکه استعمال کړي او را تلونکی افغانستان به د کوم دګاونډي هیواد پر ضد نوي.
خو د سیمې هیوادونو او په ځانګړي تو ګه د منځنۍ آسیا ولسونو ته د اسلامي امارت د دومره ډاډ سربیره بیا هم د هیواد شمال ته پراته هیوادونه (زاړه روسان) هغه چې د افغانستان د اوسنیو ټولو ناخوالو او بدبختیو اصلي عاملین دي، د امارت د دومره ژور تنازل او نرمې دیپلوماتیکي لهجې تر کار وروسته چې همدا اوس هم د شمال وطن فروشانو افغاني وسله والو او د داخلي کمونستانو تمویل او ترزیق کوي او د اسلامي امارت د مجاهدینو په وړاندې یې صف بندي کوي، همدا ښه فرصت دی چې د اسلامي امارت لدې دوستانه پیغامونو نه ګټه واخلي او خپل مشکلات ورسره د تفاهم او خبرو له لارې حل کړي، بې ځایه اندیښنې او د طالبانو څخه دولسونو ویرول به شاید نوره ګټه ورته ونه رسوي او نه به دویرې کوم داسې (ضامن تعویذ) ورته څوک ولیکي چې د دوئ نه دویرې خپسه وشړي.
کوم څه چې سیمه ایزو هیوادونو ته دیوه باور لیک سند په توګه ورکول کیدای شي هغه دادی چې اسلامي امارت به انشاءالله خپلو ژمنو ته متعهد پاتې شي او دیو ذمه وار او بامسؤلیته جهت په صفت به خپل ظهور څرګند کړي، اسلامي امارت چې له ډیرو تجربو نه وروسته منځ ته راغلی حتمي ده چې د اسې منطقوی مسؤلیتونه درک کړي او د خپلو خلکو د سوکالۍ او هوساینې لومړیتوبونه په ګوته کړي، چې لومړی به خپل هیواد کې د شرعي نظام د تنفیذ هڅه وکړي او د خپل ولس خدمت ته به اولویت ورکړي، شک نشته چې د خارجي جنایتونو په ګردلو کې له ډوب افغانستان څخه اوزګار یدل ډیر وخت ته اړتیا لري، نه پوهیږو چې افغانان به څنګه دومره ژر د خپل هیواد له جوړونې اوزګار شي او همهاله به د نورو هیوادونو لپاره د خطر زنګ ووهي، دا به د اسې یوه خبره یا تصور وي وېل او به یې اسان خو کول به یې سخت وي.
خوښکارې چې د شمال زاړه دارماران بیا متحرک شوي او د کولاب او تاشکند بادران بیا د طالبانو له فتحې نه ددې لپاره ویروي چې د دوئ شخصي ګټې په خطر کې لویږي او د قومیت شیطاني اورونه یې بیا سینو کې بل شوي، په یوه اوبل نامه کوشش کوي چې د طالبانو په لاس (د اسلامي نظام چې ګڼ تو کمه او هیواد شمولې به وي) د راتګ د مخنیوي لپاره لاس په کار شي او زاړه شریدلې روسي په مړه کالبوت کې یې بیا د تحرک نوې ساه پوکړي، خو هغه چې له امارت سره اړه لري هغه د ټول ګاونډیانو او نړیوالو سره د دوستانه اړیکو رغونه او د مشروعولارونه د خپلو ټول ګاونډیانو سره د نوې ژوند د کاروان همرکاب کیدل او بس

اسلامي غزوات او سرايا

يوولسمه برخه

ابو ظهير

دفدیي اخستل او دالهي عتاب راتلل

رسول الله (ﷺ) صحابه ووسره په سلا اومشوره بوخت و ،په دي کې وحي راغله چې درسول الله (ﷺ) مل ګري (صحابه) د دي دوه خبروپه اړه اختيار لري چې هره يوه غوره کوي :

۱ـ دفدیي په بدل کې اسيران ازادول غواړي ۲ـ که يومخ دټولو ووژل ، څنګه چې د علي (رضي الله عنه) څخه روايت دی ، وايي: جبريل (عليه السلام) راغی اورسول الله (ﷺ) ته ئې عرض وکړ:

دالله رسوله ! داسيرانو په اړه ته خپلو مل ګرو (صحابه وو) ته اختيار ورکړه ،چې هغوئ ئې وژني ، او که دفدیي په بدل کې ئې ازادوي، په دې شرط چې راتلونکی کال به له تاسي هم دومره شم ېر کسان قتل کېږي. (ترمذی ، نسائی فتح لباری ۷ټوک ۲۴۹مخ)

په مصنف عبدالرزاق او مصنف ابن ابي شيبه کې دابو عبيده څخه مرسل روايت دی : چې جبريل (عليه السلام) رسول الله ته راغی او ورته عرض ئې وک ړ: داسيرانو په اړه ستاړب دالله رسوله ! مون ړ به نن تري فديه واخلو اوازاد به ئې کړو ، څو مون ړ دډېرمنانو په مقابل کې څه څواکمن شو او راتلونکی کال چې الله (ﷻ) هرچا ته وغوښته هغه به دشهادت په وياړ اوشرف سرلوړي کړي .

دعلامه ابن سعد په روايت: راتلونکی کال به زمونږ اويا کسان جنت ته ننوزي !

دفدیي اخستل او دالله (ﷻ) له لوري دعتاب راتلل !

کله چې رسول الله (ﷺ) دابوبکر صديق (رضي الله عنه) رايه غوره کړه ، اودفدیي په عوض کې ئې داسيرانو پرې ښودو حکم وک ړ ، دلته دا يادونه ضروري ده چې دفدیي اخستو په اړه دمشرانو صحابه وو رايه دا وه چې ګوندي په راتلونکي کې به هغوئ مسلمانان شي،داسلام معاونيين او ملاتړي به شي او دفدیي له درکه چې کوم مال ترلاسه کېږي په هغه به خپل جهادي تاته واک درکړ! په دې سره رسول الله (ﷺ) له صحابه وو څخه مشوره وغوښته ، صحابه وو وعرض وکړ

څوک تقویه ک ږو ، اوددین دتبلیغ په چارو کې به تري ګټه واخلو اوممکن دفدیې په مشوره ورکوونکیو ک ې څین ې داسې هم وه چې دهغوئ زیاته لیوالتیا اوعلاقمندي دمال مونډل اولاسته راو ړل و ، چې ددې ذهنیت منشاء ددنیا سره محبت دی ، اګرکه دنیا (یعنې دغنیمت مال) حلال دی په د ې سره دالله (ﷻ) له لورې دا ایت نازل شو:

مَا كَانَ لِنَبِيٍّ ان يَكونَ لَهُ أَسرى حَتى يُثخِنَ فِى الأَرضِ تُرِيدونَ عَرَضَ الدُنيا واَللهُ يُرِيدُ الاخِرة والله عزيزٌ حَكِيم٠ولولَا كتابٌ من الله سَبَق لَمَسَّكم فِيما أَخذتُم عذابٌ عظيم (دالانفال سورة ۶۷ آیت)

نه ښائی دنبي لره، داچ ې وي ده لره بندیان (چې تري فدیه واخلي) ترهغه وخته چې قوي شي په ځمکه کې (دکفارو ددې ر قتل او جرحی په سبب) اراده کوئ تاسې (اې مؤمنانو) اسباب ددنیا (په اخیستلو دفدیې سره) او الله اراده لري (تاسې لره ثواب) داخرت (دکفارو دقتل په سبب) او الله ښه غالب قوي دی (په انفاذ احکامو) ښه حکمت والا دی چې هر کار په تدبیر او مصلحت سره کوي .که نه وي ازلي حکم له جانبه دالله چې ږومبی لیکل شوی دی (په لوح محفوظ کې) نو خامخا رسیدلی به و تاسې ته په عوض دهغې (فدیې کې چې اخسې ده تاس ې) عذاب دې ر لوی.

په دې آیت کې دعتاب اصل مخاطب هغه خلک و ه چا چ ې دنیاوي مصلحتونو ته په پام دفدیې مشوره ورکړې وه، څنګه چې له "تُرِيدون عَرَضَ الدنيا" څخه مترشح کیږي ، پات ې نورو صحابه وو چ ې په اخلاص او ددینې او اخروي مصالحو په بنا ددفدیې اخستو مشوره ورکړې وه ، هغوئ په دغه عتاب کې نه وشامل ، اورسول الله (ﷺ) یواځې دصله رحم ې ، اوعاطفې په بناء دفدیې اخستو رایه خو ښه کړه ، څومسلمانانوته دمالې پلوه ګټه ورسي ، نورو ته دمالي ګټو رسول نهایت ې ښه عمل دی ، البته دځان لپاره مالي ګټه ملحوظول بد دي ، په پورته آیت کې عتاب په هغو خلکودی دچا نظر چې زیات په مادیاتو و ، رسول الله (ﷺ) او ابوبکر صدیق (ﷺ) دوارډه ددې ایت دعتاب په اوریدو په ژ ړا شول ، حضرت عمر (ﷺ) وایې:ما تر ې دژړیدا سبب وپو ښته رسول الله (ﷺ) وفرمایل:

أبكِي لِلذى عُرِضَ على أصحابك مِن أخذِ هم الفداء لقد عرِضَ عَلىَّ عذابُ بهم أدنى مِن هذه الشجرة (مسلم ۲ټوک ۹۳مخ)

دفدیې اخستو په وجه چ ې دالله (ﷻ) له لورې ستا په ملګروکوم عذاب راغلی و ، دهغه په وجه ژاړم ،ځما په وړاندې عذاب ددې ونې نه هم نږدې وښودل شو.

ځې رنه :عذاب یواځې ښودل

شوی و ،راغلی نه و ،چې غرض یې آ ګاهي او تنبیه وه ، دښودو وروسته رسول الله (ﷺ) وفرمایل :که په دغه وخت کې عذاب راغلی و ، دعمر پرته به تري بل څوک خلاص نه و ، په یوه روایت کې دي :پرته دسعد بن معاذ !(زرقاني لوم ډی ټوک ۴۴۲مخ)

دسعد بن معاذ (رضي الله عنه) هم دا رایه وه چې هغوئ دي ووژل شي ، په دي وجه له عمر (رضي الله عنه) سره یو ځای هغه هم مستثنی کړای شو ،عبد الله بن رواحه (رضي الله عنه) اګرکه دفدیې اخستو مخالف و، خو هغه ویلې چې ټول دي په اور ک ې وسیزل شي ، کوم چ ې اسلامي شریعت نه خو ښوي ، په دي وجه هغه یادنشو ، دبدر غزوي لوی غرض دحق احقاق او دباطل ابطال و ، څنګ چې الله (ﷻ) فرمایلي:

وَ یُرِیدُ اللهُ اَن یُحِقَّ الحَقَّ بِکَلِماتِه و یَقطعَ دابرالکفِرین ۔لِیُحِقَّ الحَقَّ ویُبطِلَ البَاطِلَ وَلَو کَرِهَ المُجرِمُون (الانفال ۷ آیت)

او اراده لري الله ددي چې ښکاره اوثابت کړي رښتیا په کلامونو خپلو سره اوپري ک ړي بیخ دکافرانو له پاره ددي چې ظاهر او غالب ک ړي حق (دین داسلام) او له (پاره ددي چې) ظاهر کړي بطلان دباطل (کفر) او اګر که بده مني (داخبره) مجرمان (کافران اوپري خفه کیږي)

هم دا وجه وه چ ې دبدر په غزوه کې مسلمانانو ته الله (ﷻ) دمشرکانو دقتلولو په اړه دا حکم کړی و :

فا ضربوا فوق الأعناق واضربوا منهم کُلَ بنانٍ (انفال ۱۲ایت)

نو ووهئ تاس ي (سرونه ددي کفارو) دپاسه دورمی ډونو اووهئ تاسې له دغو کفارو (کفارو څخه هر ،هر بنډ) اوتاولي ګوتي!

په سورة محمد کې هم دي: کله چ ې دکافرانو سره په جنګ کې مخ شئ دهغوئ څټونه ووهئ ، تردي چ ې دهغوئ وینې ډیري توی شي، بیا هغوئ قید کړئ ، دقیدولو نه وروسته یا پرهغوئ احسان وکړئ ، یا له هغوئ څخه فدیه واخلئ ، داحکم ترهغه وخته دی څو چې جن ګ خپله وسله و نه غوځوي .

له دي ایت نه څرګندی ډي چې څو د الله ددین دښمنانو وینې دومره نه وي توی چ ې جن ګ خپله وسله ونه غورځوي اوپه هر لوري دحق هیبت ، دبدبه ، او غلبه نه وي خوره، ترهغه وخته فدیه اخستل رواندي.

هو! داسلام له غلبې ، هیبت اودبدبې وروسته که بیا فدیه واخستل شي ، کوم باک نلري ، دغه مهال الهي مشیت دا و چ ې د الله (ﷻ) ددین ددښمنانونوري وینې دي هم توی شي ، څو دخلکوپه زړونو کې داسلام هیبت او رعب کین ې ، او دکفرر پښې داسې ووځي چې په راتلونک ې کې بیا کفرد اسلام په مقابل کې سرپورته نکړي.

داچې مسلمانانو دالله ددین دښمنانو دپوره وینو تویولو څخه وړاندي فدیه قبوله ک ړه په دي وجه دالله (ﷻ) له لوري ورباندي عتاب راغی. (احکا م القرآن للجصاص۳ت وک ۲۷مخ)

ولې دغه دترحم وخت نه و دشدت او سخت ګیر ی وخت و، لکه ابوطیب شاعر ویلي:

وَضعُ النَّدی فی موضع السیف بِالعلی مُضِرٌ
کَوضع السیف فِی موضِع النَّدی

بښنه اومهرابانی د توري په ځای ایښودل دومره مضر دي، څومره چ ې درحم اوعاطفي په ځای دتوري ایښول مضردي

لن یَسلَم الشَّرفُ الرَّفیعُ مِن الاذی حتی یُراق عَلی جوانبه الدَّم

یعني شرف درفیع هم له ضرر څخه نشي خوندي کیدای ، څو چې دهغه په شاوخوا ک ې وینې ونه بهول شي

اسلام یوا ځي دمجرمانو دقتل حکم ورکړی دی ، خو کوم حکومتونه چ ې دتهذیب اوتمدن دعوه کوونکې دي ، هغوئ دخپل رعب کینولو او دبدبي لپاره دمجرم او غیر مجرم توپیر ته ډېر پام نه کوي ، پرته دکومي استثناء دقتل عام حکم کوي ، چ ې پک ې بیقصوره کوچنیان او میرمني هم را ځي ، او ددغو مهذبو ل ښکرو په لاس چې کوم څه وشول اولا کېږي هیڅکله پټ ندي ، دنویو عصري وسلو او الوتکو په کارولو سره په زیاته بي رحم ی دڅو ثانیو او دقیقو په ځنډ کې جوړ کلي اوښارونه پو پناه کیږي .

الحمد الله ! اسلام ددغسي بي رحمی اوسخت ی اجازه نه ورکوي ، اسلام مجاهدینو ته دماشومانو ، میرمنو ، بوډاګانو اوراهبانو دوژلو اجازه نه ورکوي او په کلکه تري منع کوي .

یوه شبه او دهغې ځواب :

شبه داده چ ې دالله (ﷻ) له لوري دفدیې او قتل دوا ړو اختیار ورکړل شوی و ، بیا ولې دفدي په اخستو عتاب راغی ؟علماوو لیکلي: دا اختیار یواځي لفظي اوصوري و ، خو په معنوي او حقیقي تو ګه هغه اختبار (یعني امتحان و چ ې ګوره دالله (ﷻ) ددښمانو وژل غوره کوي که ددنیا تو کي اوسامانونه)څنګه چ ې ازواج مطهرات کله له رسول الله (ﷺ) نه زیات نفقه اوډوډی وغوښته نو دا ایت نازل شو:

یَا أیُّها النبی قُل لِا زواجک ان کنتن تردن الحیوة الدنیا وزینتها فتعالین امتعکن واسرحکن سراحا جمیلا وان کنتن تردن الله ورسوله والدار الاخرة فان الله اعد للمحسنت منکن اجرآ عظیما

اي نبي خپلو میرمنوته دا ووایه ! که چیري تاس ې ددنیا ژوند او ارایش غوا ړئ راشئ زه به تاسوته ښه کالي درکړم اورخصت به مو ک ړم او که دالله اودهغه درسول اطاعت کول غوا ړئ نو الله (ﷻ) په اخرت کې له تاسونه دهغو

لپاره چ ی نیکان دي ستر اجرورکوي

په دي ایت ک ي ظاهراً اګرکه ازواج مطهرات ته دا اختیار ورکړل شوی چې ددنیا زینت غوره کوئ او که الله (ﷻ) دهغه رسول او اخرت غوره کوئ خو په حقیقت ک ي دا اختیار نه و بلکې اختبار یعنې امتحان او ازماینت و .

څنګ چې دمعراج په شبه درسول الله (ﷺ) په وراند ي شراب او شیده په دوه لوښو کې وراندي شول اورسول الله (ﷺ) شیده غوره کړل جبریل علیه السلام ورته وفرمایل:که تاچیري شراب غوره کړي وای نوامت به دي په ګمراهیوسرشوی و

داچې ابوبکرصدیق (ﷺ) اونورو صحابه وو دفدیې په اړه کومه مشوره ورکړي وه ، هغه یوا څې دیني او اخروي مصلت لپاره وه ، او څینو نورو مال ي ګټو وتو ته په پام دفدیې مشوره ورکړي وه ، په د ي وجه دعتاب آیت نازل شو اودد ي عتاب مخاطب اصل هغه خلک و دچا چې مال ي ګنې ترلاسه کول و ، څنګ چې د"تریدون عرض الدنیا" څخه جوتې دي ، اودعتاب مطلب دادی چې :

تاسي دالله داستازي په ملګرتیا کې بیا هم ددنیا حقیرو اسبابو ته نظر کوئ ، اي درسول الله(ﷺ) مل ګرو ! ستاسو پشان سابقینو ، مقربینو او دعالي شان لرونکیوخلکو سره هېڅکله دا مناسب نده چ ې حلالي دنیا (دغنیمت مال اوفدیه) ته نظر وکړئ رسول الله (ﷺ) چې دفدیې رایه غوره کړه دهغه منشاء یوا څې اویوا څې رحم اومهرابان ي وه ، معاذ الله ،معاذالله درسول الله (ﷺ) او ابوابکر صدیق (رضي الله عنه) مال ګټې غرض نه وي ، په دي وجه هغوئ په عتاب ک ي نه وشامل ، درسول الله (ﷺ) په وراندي ددي ټولې دنیا وجود اوعدم برابر و دفدیې په څو معدوده دراهمو به ې څه نظر و؟

ځېرنه :

دانبیاوو او مجتهدینو داجتهاد توپیر:

ددي آیت نه څینو علماوو استدلال ک ړی دی چې انبیاء علیهم السلام هم کله نه کله اجتهاد کوي ، او کله په دي اجتهاد کې خطاء ک ېږي هم ؛ لیکن الله (ﷻ) هېڅکله هم خپل پیغمبر په خطاء باندي ولاړ نه پرې ږدي ، بلکې ي دوحی په زریعه هغه ته تنبیه ورکوي ، خو دانبیاوو او مجتهدینو په اجتهاد ک ي دزمک ي او اسمان اومره توپیر دی ، هغه داچ ي دوحي راتلو څخه وروسته دنبي په اجتهاد باندي عمل نه ساقط کېږي ، هم دا وجه وه چې رسول الله (ﷺ)په اجتهاد سره دکومې فدیې اخستو حکم ورکړی و ، هغه دایت دنزول وروسته پاتې شو ، یکې هېڅ تغیر او بدلون رانغی ،رسول الله (ﷺ) دقتل لورته رجوع ونکړه ، په خلاف دمجتهد ، که داجتهاد

وروسته څرګنده شوه چې ذما دغه اجتهاد دفلاني نص خلاف دی ، نو په هغه له پخواني اجتهاد څخه رجوع لازم ده، په دي پوهيدل پکاردي چې درسول اجتهاد" خفي وحي" ده ولي الله (ﷺ) فرمايلي: ومايَنطق عن الهوا ان هوى الا وحيٌ يوحى.

که چيري الله (ﷺ) دنبي په اجتهاد سکوت وک ړي نو هغه اجتهاد د"خفي وحي" په درجه کې راځي ، او حکم ې هغه دی کوم چې د"جلي وحي" حکم دی ، او که دخفي وحي خلاف کوم حکم نازل شي ، دا جلي وحي دهغه وحي (نبوي اجتهاد) لپاره ناسخ ک ېږي ، څنګ چې يو آيت دبل ايت لپاره يو حديث دبل حديث لپاره ناسخ ګرځي ، هم داسي دالله (ﷺ) نص او جلي وحي دخفي وحي (نبوي اجتهاد) لپاره ناسخ کېږي ، اودنسخ حکمتونه الله تعالى ته معلو م دي، دالله (ﷺ) رسول چې په يوه غير منصوص امر ک ي اجتهاد وک ړ هغه هم دالله (ﷺ) په غيبي اشاره و ، الله (ﷺ) فرمايلي:

انا انزلنا اليک الکتاب بالحق لتحکم بين الناس بما اراک الله

تا چې کومه رايه اومشوره ورکړه هغه هم دالله (ﷺ) په اراءة اوپه اشاره و ه او وروسته چې کله ددی خلاف حکم نازل شو هغه هم دالله (ﷺ) حکم نازل شو اويو حکم دبل حکم لپاره ناسخ دی

والله يفعل مايشآء ويحکم ما يريد

دنبي نه چې په اجتهاد کې کومه خطاء راشي ، نو الله (ﷺ) دوحي په زريعه هغه ته تنبيه ورکوي ، معاذ الله هی څ انسان ته داحق نشته چې هغه دي دنبي اورسول په اجتهاد باندي تنقيد او تبصره وکړي ، د الله (ﷺ) دتقرير او سکوت وروسته دنبي په اجتهاد تنقيد اوتبصره کول داسې کفردی لکه چې په جلي وحي تنقيد او تبصره کول کفردی ، دمومن شان دادی :

زبان تازه کردن باقرار
تو=نې‌ګخيتن علت ازکارتو

په دي هم پوهيدل پکاردي چې دانبياء عليهم السلام داجتهادي خطاء دا معنی نده چې معاذ الله انبياوو په تيروتنه حق پري ای ښی او دباطل مرتکب شوي ، بلکې ددي خطاء معنی داده چې يو وخت په هيره سره داولی اوغوره په خای ځې په ادنی باند ې عمل کړی دعزيمت په خای ځې په رخصت عمل کړی لکه داود اوسليمان (عليهما السلام) شول ،په هغوی دوا ړو کې دهريوه اجتهاد دنفس دخوهشاتو څخه پاک اومنزه و او دهريوه اجتهاد خفي اوباطني وحي وه، خو جلي وحي ،قياسي سليماني له قياس داودي اولی اوغوره وګرځ‌او ، جلي وحی ې سليماني قياس وستايه اود توثيق ځ ې وک ړ! ددي مطلب دانډی چ ې داودي قياس غلط و ، بلک ې دالله په نزد سليماني قياس په نسبت سره داودي قياس ته ډې‌ر احسن اقرب الی مصالح الخصمين و

معاذ الله ددغو دوا ړو قیاسونو ترمنځ هغه نسبت نه و کوم چې دحق اوباطل ترمنځ دی ، بلکې هغه نسبت و کوم چې د"کامل او اکمل دفاضل او افضل دعالي او اعلی" ترمنځ دی یاد "عزیمت او رخصت ترمنځ دی ، حنفي فقهاوو چې دجلي قیاس او استحساني قیاس کوم ویش ک ړی دی دهغه ماخذ هم دغه داودي او سلیمانې قیاس دی ،دلته چې دانبیاوو داجتهادي خطاء کومه معنی وراو ړل شوه دا د خیالي او دمغ ې له حاشیې دفهمولو ترڅنګ د نومیالي شیخ الحدیث مولانا محمد ادریس کاندهلوي (رحمه الله) له سیرة المصطفی ژباړل شوی .

دفدیي مقدار:

دفدي مقدار دهرچا حیثیت ته په پام له زر درهم نیولې تر څلور زره درهم و ، کوم خلک چې غریبان و ه او فدیه ې نشوای ورکولی هغوئ پرته له فدیي او بدل پرې ښودل .

او کوم خلک چې په لیک لوست پوهیدل په هغوئ باندې دا شرط کی ښودل چې هغوئ ک ې هر یو به لسو، لسو ماشومانوته لیک لوست ښې او بیا به پرې ښودل کیږي هم دا دهغوئ فدیه وه ، زیدبن حارث (رضی الله عنه) په دي تو ګه لیک لوست یاد کړی و(دابن سعد طبقات ۱۴مخ ۲ټوک او دابن هشام سیرة)

دبدر په اسیرانو کې ابو عزه عمرو بن عبد الله بن عثمن هم دفدیي ورکولو وس نه درلود، هغه رسول الله (ﷺ) ته عرض وکړ:یارسول الله ! تاته معلومه ده چې زه غریب یم ا وعیال لرم له ما سره احسان وکړه ، هغه رسول الله (ﷺ) دفدیي پرته په د ې شرط پرې ښودل چې بیا به زمونږ مقابلي ته نه را ځي ، ابوعزه دا شرط قبول ک ړ او درسول الله په شان ک ې ې ځو مدحیه شعرونه هم ولیکل ،خو اسلام ې قبول نک ړ ،بیا داحد په جن ګ کې دکفر په حالت وم ړ، په هم ې تو ګه مطلب بن حنطب ، او صیفی بن رفاعه هم دفدي پرته پرې ښودل (دابن هشام سیرة ۳۱مخ ۲ټوک) نوربیا

قسمت دوم

حنظله (بدر)

میثاق مرگ با امریکا

ملّتم! اسلام حق عقد چنین پیمانی را برایت نمیدهد.

بلی ملّتم! خدای آسمان ها و زمین ترا از دوستی با کفار و یهود و نصاری و طرح مودت با آن ها برحذر داشته و منع می کند. خداوند متعال(جل جلاله) در کتاب برحقش (قرآن کریم) که بدان ایمان و باور داری ترا خطاب قرار داده می فرماید:

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا الْيَهُودَ وَالنَّصَارَى أَوْلِيَاءَ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمْ فَإِنَّهُ مِنْهُمْ إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ﴾ - المائدة.

ترجمه: "ای کسانی که ایمان آورده اید! یهود و نصاری را ولی (دوست و تکیه گاه خود،) انتخاب نکنید! آنها دوستان و اولیای یکدیگرند؛ و کسانی که از شما با آنان دوستی کنند، از آنهٔ هستند؛ به یقین که خداوند، جمعیّت ستمکار را هدایت نمی کند."

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا الْكَافِرِينَ أَوْلِيَاءَ مِن دُونِ الْمُؤْمِنِينَ أَتُرِيدُونَ أَن تَجْعَلُوا لِلَّهِ عَلَيْكُمْ سُلْطَانًا مُّبِينًا﴾ النساء: ۱۴۴

ترجمه: "ای کسانی که ایمان آورده اید! غیر از مؤمنان، کافران را ولی و تکیه گاه خود قرار ندهید! آیا می خواهید (با این عمل) دلیل آشکاری بر ضدّ خود در پیشگاه خدا قرار دهید؟!"

چرا که خداوند (جل جلاله) می داند که آن ها هرگز با مسلمانان دوست نمی شوند و خوبی شان را نمی خواهند:

﴿وَلَن تَرْضَىٰ عَنكَ الْيَهُودُ وَلَا النَّصَارَىٰ حَتَّىٰ تَتَّبِعَ مِلَّتَهُمْ﴾ - البقرة: ۱۲۰

ترجمه: و هرگز یهود و نصاری از تو راضی نخواهند شد تا (به طور کامل تسلیم خواسته های آنها نشوی و) از آیین (تحریف یافته) آنان، پیروی نکنی."

و تلاشی جز بیرون ساختن مسلمین از دین شان و هدفی جز مبارزه با دین مقدس اسلام و شکست آن ندارند:

﴿وَلَا يَزَالُونَ يُقَاتِلُونَكُمْ حَتَّىٰ يَرُدُّوكُمْ عَن دِينِكُمْ إِنِ اسْتَطَاعُوا﴾ - البقرة: ۲۱۷

ترجمه: "و مشرکان و کفار، پیوسته با شما می جنگند (هم به صورت جنگ گرم و هم به صورت جنگ سرد یا جنگ فکری، اید یالوژیکی و برنامه ای) تا اگر بتوانند شما را از دین (آیین) تان برگردانند."

﴿إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا يُنفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ لِيَصُدُّوا عَن سَبِيلِ

الله» - الأنفال: ۳۶
ترجمه: "آنهایی که کافر شدند (کافر و غیرمسلمان هستند)، اموال شان را برای بازداشتن (مردم) از راه خدا خرج می کنند."
آری ملتم! خداوند متعال(جل جلاله) ترا از دادن دست دوستی و کنار آمدن با کسانی که بر دین، فرهنگ و ارزش هایت تمسخر می کنند و با اجساد فرزندانت عکس یادگاری می گیرند و بر جسدهای مردگانت تمسخر می نمایند، منع کرده و از چنین دوستی ای هشدارت می دهد:
«يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا الَّذِينَ اتَّخَذُوا دِينَكُمْ هُزُوًا وَلَعِبًا مِنَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ مِن قَبْلِكُمْ وَالْكُفَّارَ أَوْلِيَاءَ وَاتَّقُوا اللَّهَ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ» - المائدة: ۵۷
ترجمه: "ای کسانی که ایمان آورده اید! آنانی را که آیین (دین و ارزش های) شما را به باد استهزاء و بازی می گیرند - از اهل کتاب و مشرکان- دوست و ولیّ خود انتخاب نکنید؛ و از خدا بترسید اگر ایمان دارید و مومن هستید!"
ملتم! اگر دین مقدس اسلام ترا از دوستی با یهود و نصاری و کفار و مشرکین باز میدارد و از اتکاء بر آنها ولو که آن ها از در دوستی هم پیش بیایند برحذر می سازد، به یقین که از دوستی با آن ها در وضعیت کنونی که عملاً آن ها (و بخصوص امریکا) با اسلام وارد جنگ هستند، پیامبر(صلی الله علیه وسلم) را توهین می کنند، قرآن کریم را می سوزانند، مسلمانان متعهد و پابند به دین اسلام را به بهانه های مختلفی به نام تروریست، بنیادگرا و افراطی می کشند و دربند می افگنند، از اسرائیل غاصب علیه ملت مظلوم فلسطین حمایت می کنند، از حکومت های جابر و ظالم در برابر ملت های مسلمان رنجکشیده و بی دفاع پشتیبانی می کنند، حق تعیین سرنوشت ملت ها بخصوص ملت های مسلمان را که خواستی جز ایجاد نظام و دولت اسلامی ندارند، به هر نحو ممکن سلب کرده اند، ملیاردها دالر را برای ترویج سکولاریزم، تحکیم نظام کپیتالیستی، استقرار حکومت های دست نشانده شان در سرزمین های اسلامی و مبارزه با اسلام و فرهنگ اسلامی به مصرف می رسانند و بالآخره هدفی جز استعمار، استثمار و استحمار کشورهای جهان در رأس کشورهای اسلامی ندارند، نه تنها که اکیداً و شدیداً منع می کند، بلکه به مبارزه و جهاد علیه آن ها حکم می نماید:
«وَمَا لَكُمْ لَا تُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَالْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَاءِ وَالْوِلْدَانِ الَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا أَخْرِجْنَا مِنْ هَٰذِهِ الْقَرْيَةِ الظَّالِمِ أَهْلُهَا وَاجْعَل لَّنَا مِن لَّدُنكَ وَلِيًّا وَاجْعَل لَّنَا مِن لَّدُنكَ نَصِيرًا» - النساء: ۷۵
ترجمه: "چه شده است شما را که در راه خدا و (برای نجات و آزادی) مردان و زنان و کودکانی که (به دست ستمگران) تضعیف شده اند، پیکار نمی کنید؟! همان افراد (ستمدیده ای) که می گویند: «پروردگارا! ما را از این شهر که اهلش ستمگرند، بیرون ببر! و از طرف خود، برای ما سرپرستی قرار ده! و از جانب خود، یار و یاوری برای ما تعیین فرما!"
«وَقَاتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ الَّذِينَ يُقَاتِلُونَكُمْ» البقرة: ۱۹۰
ترجمه: "و در راه خدا، با کسانی (از غیر مسلمانان- یهود و نصاری، کفار و مشرکین) که با شما می جنگند، نبرد کنید!"
«قَاتِلُوا الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَلَا بِالْيَوْمِ الْآخِرِ وَلَا يُحَرِّمُونَ مَا حَرَّمَ اللَّهُ وَرَسُولُهُ وَلَا يَدِينُونَ دِينَ الْحَقِّ مِنَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ حَتَّىٰ يُعْطُوا الْجِزْيَةَ عَن يَدٍ وَهُمْ صَاغِرُونَ» - التوبة: ۲۹

ترجمه: "با کسانی از اهل کتاب که نه به خدا، و نه به روز جزا ایمان دارند، و نه آنچه را خدا و رسولش تحریم کرده حرام می‌شمرند، و نه آیین حق را می‌پذیرند، پیکار کنید تا زمانی که با خضوع و تسلیم، جزیه را به دست خود بپردازند!"

﴿وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّى لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ كُلُّهُ لِلَّهِ﴾ - الأنفال: ۳۹

ترجمه: "و با آنها (غیر مسلمانان) پیکار و مبارزه کنید، تا فتنه (شرک و سلب آزادی) برچیده شود و دین (و پرستش) همه مخصوص خدا باشد!"

ملتم! آیا با این همه براهین آسمانی و آیات قرآنی که برایت نقل کردم، بازهم به خود اجازه میدهی که با یهود و نصاری دست دوستی بدهی و پیمان همکاری متقابل با آن ها ولو که به نفعت هم باشد (که به یقین که نیست) به امضا برسانی؟!

ملتم! میدانم که با توجه به ایمان امتحان شده ای که به خدا (جل جلاله) و رسول (صلی الله علیه وسلم) و یقین کاملی که به قرآن و سنت داری، این میثاق را ولو که ملیاردها دالر و ملیون ها تن طلا ارزش داشته باشد و یا برایت مفاد بارآورد، نخواهی پذیرفت و فکر می کنم قناعتت با این دلایل و براهین فراهم گشته باشد! اما من نمی خواهم فقط به همین اکتفا کنم و این صحبت را خاتمه بخشم، بلکه می خواهم برایت پیامدهای ناگوار امضای این سند را بازگو کنم تا باشد قناعتت بیشتر فراهم شود و به یقین مبدل گردد:

ملتم! اشغالگران صلیبی در رأس امریکا دین و فرهنگت را بصورت مستقیم و غیر مستقیم هدف گرفته اند و می خواهند آن را نابود کنند. آن ها از زمان اشغال کشورت تا کنون چندین بار به قرآن کریم (عقیده - برنامه - شریعت و قانون اسلام و مسلمین) توهین کرده اند (گاه آن را سوزانده اند و گاه در باطله دانی انداخته اند و گاه هم در تمرینات نظامی از آن به عنوان نشان استفاده کرده اند و گاه هم...) و چندین مسجد (نماد و نشانه حاکمیت اسلام) را با بمباردمان های هوایی و یا عملیات های راکتی و توپخانه ای خویش ویران کرده اند. تلاش مستمر و سازماندهی شده ای اشغالگران صلیبی برای از میان برداشتن دین و فرهنگ تو ملت مسلمان و سرزمین با دیانتت است؛ تلاش قبیحی که اگر تو خاموش بودی با قساوت تمام و بدون کمترین ایستایی به پیش می رود و اگر سکوت را شکستی و واکنش نشان دادی، فقط معذرتی تحویلت می دهد و با طلب بخشش، بیشتر از پیش به سرعتش می افزاید.

ملتم! اشغالگران صلیبی در نخستین اقدام قانون اساسی که خود می خواستند بدست عده ای از فرزندان ناخلفت وضع و حاکم ساختند که طی آن "حاکمیت" را از "خدا (جل جلاله)" گرفتند و به بنده (ملت) واگذار کردند، اساس نظام سیاسی کشور را به جای "نظام سیاسی اسلام" "مبتنی بر "دموکراسی" ساختند و اقتصاد کشور را بر مبنای "نظام اقتصاد بازار" (اقتصاد سودی و ثروت اندوزی) به جای "نظام اقتصادی اسلام"، بنا نهادند. سکولارهای غربی مشرب را به مناصب بلند دولتی رسانیدند و فرزندان متعهد و متدینت را به تروریست و دهشت افکن خواندند و به زندانها و سیاه چاها انداختند. یک عده جوانان ناخلفت را به صف ارتش و پولیس کشانیدند تا از آن ها به عنوان چوب سوختی در جنگی که نام آن را "جنگ با تروریزم" گذاشته اند استفاده کنند. اما این جنگ جنگی علیه تروریزم نیست بلکه جنگ صلیبی است به ضد اسلام و فرزندان پاکبازت به را انداخته اند.

بلی ملتم! آن ها طی این سال ها تلاش کرده اند زبان های را که بخشی از فرهنگ و تمدن کهنت را می سازند حذف و یا به حاشیه برانند که به این

کار تا حد زیادی موفق هم شده اند. اکنون زبان رسمی بسیاری از ادارات دولتی را (بجای پشتو و دری) انگلیسی می سازد، مکاتب رسمی به این زبان نگاشته می شوند، یکی از شرایط اساسی استخدام در دوایر دولتی و غیر دولتی دانستن زبان انگلیسی است، کسانی که انگلیسی می دانند به مناصب بلند دست می یابند، معاشات متمایز و خیلی ها بلند بدست می آورند و از امتیازات زیادی برخوردار می شوند. اکنون در مکاتب ساعات درسی زبان انگلیسی نسبت به تفسیر، حدیث، ادبیات و... زیاد گردیده و مکاتب، موسسات تحصیلات عالی و پوهنتون های خصوصی بالعموم با همین زبان تدریس می کنند. اشغالگران بصورت سازماندهی شده اختلاف طبقاتی را در جامعه ما بوجود آورده و آن را انکشاف می دهند. در طول این سال ها عده ای را با دادن پول های هنگفت به ملیونرها و ملیاردرها مبدل ساخته اند اما اکثریت افراد جامعه در حالت فقر و تنگدستی بسر می برند و به سختی روزها و شب ها را سپری می کنند. آن ها با این کار خویش می خواهند ملت ما را به جان هم بیاندازند و دست فقراء را به گریبان اغنیاء دراز کنند و حالتی را بوجود بیاورند که فقرا با نفرت و دید انتقامجویانه به اغنیاء بنگرند و اغنیاء که هم ثروت دارند و هم حاکمیت در دست شان است به سوی فقراء به دید دشمن ببینند و به هر طریق ممکن بخواهند آن ها را سرکوب کنند و در این راستا دست به دامن اشغالگران صلیبی ببرند و حفظ ثروت و قدرت شان را از خارجی ها بخواهند؛ چیزی که اکنون نیز بوجود آمده و وجود دارد.

آری ملتم! اشغالگران دد منش می خواهند در کشور ما فقر را گسترش دهند چون فقط ملت های فقیر را می شود به بردگی گرفت نه ملت های غنی را و آن ها می خواهند بی سوادی را ترویج کنند نه سواد را چون فقط ملت های جاهل تسلیم استعمار می شوند. شاید بگویی که این همه آن ها کمک کرده اند تا ما از فقر نجات یابیم و همه روزه آن ها برای محو بی سوادی تلاش می کنند، پس چگونه این سخن ها را می گویی؟

ملتم! حرفت را تایید می کنم به ظاهر آن ها طوری عمل می کنند که تو میگویی اما حقیقت امر جز آن نیست که من گفتم. اشغالگران ادعا دارند که تا کنون ملیاردها دالر را به کشور ما کمک کرده اند. این ادعای آن ها اگر قسمتی دروغ هم باشد، قسمتی درست است اما موضوع عمده این است که این پول ها اولاً به کشور و مردم ما داده نشده بلکه به صورت سازماندهی شده از طرف خود اشغالگران و عمال داخلی شان به نام ملت و مردم ما حیف و میل گردیده و اندک آن کمک ها، آن هم بخاطر جلوگیری از رسوایی و زیر سوال نرفتن شعارهای بشردوستانه شان که با همان روپوش به افغانستان لشکرکشی کردند، در کشور ما مصرف گردیده و ثانیاً این که پول های اندک مصرف شده در کشور، بر زندگی مردم ما تاثیر نداشته چون هدف از آن کار و خدمت به مردم نبوده بلکه منظور ایجاد نابرابری و اختلافات میان مردم ما بوده و یک بار دیگر می گویم که یگانه دستاورد آن، ایجاد طبقات و اختلافات طبقاتی بوده است.

اکیداً بازهم اذعان می دارم که اشغالگران با امتیاز بخشیدن و روی کار آوردن افراد پست فطرت به دلیل گرایش های غربی و یا خدمت به آن ها و حذف دانشمندان، علما و ادبا از صحنه سیاسی- اجتماعی و تاکید روی زبان انگلیسی و به حاشیه راندن علم و دانش و ادب و فن و با تقرر افراد در مناصب غیر تخصصی (انجنیر به جای داکتر و داکتر به جای حقوقدان و...) عملاً تلاش کرده اند دانش و علم را کنار زنند.

فراموش نباید کرد که با توجه به رشد فکری جوامع انسانی از جمله جامعه ما و این که نمی شود چشم و گوش ملت ها را بست و در تاریکی قرار شان داد، نمی توانند مانع تعلیم و تحصیل

مردم گردند بناءً تلاش دارند فقط آن بخش های از علم را که به نفع شان است و یا مانع تحقق اهداف شان نمی شود مانند دانش کمپیوتر، تجارت، اقتصاد، انجنیری، طبابت و... گسترش دهند و علومی را که به ضرر شان است و یا مانع تحقق اهداف شان می گردد مانند فقه اسلام (بخصوص فقه سیاسی)، علم تفسیر و حدیث و... به نحوی از انحا محدود سازند (که قبلاً به آن اشاراتی داشتیم) و در انظار مردم کم اهمیت جلوه دهند.
ملتم! اشغالگران با ایجاد و تمویل رسانه های دیداری، شنیداری و نوشتاری به شدت دین و فرهنگت را آماج قرار داده اند. آن ها به کمک این رسانه ها به نشر برنامه های مبتذل و ترویج فساد دست یازیده و توانسته اند عده زیادی را به سوی خرافات و منکرات سوق دهند. اکنون ده ها رادیو در کشور نشرات دارد که جز لهو و لعب چیزی از آن ها بگوش نمیرسد، ده ها تلویزیون فعال اند که نشراتی جز موسیقی و رقص و بی حیایی ندارند و ده ها نشریه چاپی به نشر می رسد که هدفی جز دامن زدن به تعصبات قومی- لسانی- مذهبی و محور بحثی جز موضوعات نکوهیده ندارند.
اشغالگران صلیبی افراد مرتد شده تبعه کشورت را بدون توجه به تو و احکام اسلامی، در مقابل چشمانت به بیرون انتقال داده اند، قاتل افراد مربوط به تو ملت را نخواسته اند تسلیمت کنند و از کشورت بیرون ساخته اند. شب هنگام به خانه های افراد مربوط به تو ملت نجیب به عنف داخل گردیده، مردان جوان را بدون هیچ دلیلی با خود برده و در مقابل انظار مردان، زنان خانواده ها را تلاشی و حتی بی عفت کرده اند.
بالآخر اشغالگران با فرهنگ و برنامه های خشک مادی خود ارزش های معنوی ما را به چالش کشیده و در تلاش اند حرص و زیادت طلبی، دروغگویی، بدعهدی، بداخلاقی و دشمنی را جانشین قناعت، صداقت، وفاداری، اخلاق نیکو، دوستی و صمیمت که از ارزش های پسندیده و دیرین ما در طول تاریخ بوده اند و هستند، بسازند.
ملتم! حال با این همه سخنی که گفتیم فکر می کنی که امضای پیمان با امریکا به ضرر دین و فرهنگت نیست؟ من بدین باور هستم که یکی از پیامد های امضای این پیمان که تا چندین سال دیگر حضور امریکا و عساکر آن را در کشورما تضمین می کند تبدیل شدن ملت ما (تو) خدای نخواسته به یک ملت بی دین بی فرهنگ خواهد بود.
بلی ملتم! اگر این وضعیت دوام کند خدای ناخواسته به وبای سکولاریزم و لادینی مبتلا خواهی شد، ارزش های عالی را که در طول هزاران سال با خود حمل کرده ای و از نیاکان نیک سرشتت و آیین جاودانت (اسلام) به ارث برده ای همه به باد فنا خواهند رفت، تاریخ و تمدنت ضرب صفر خواهد شد و زبانت را مانند هندوستان و پاکستان و تاجکستان و... از دست خواهی داد و سرانجام با وجود همه و همه غنامندی - از غنای دینی و فرهنگی گرفته تا غنای اخلاقی و تمدنی و... - به یک ملت مستمند، فقیر و بیچاره مبدل خواهی شد.
ملتم! در طول این سال هایی که اشغالگران کشورت را اشغال نموده اند همه چیز کشور و امور سرزمینت به آن ها تعلق دارد، آیا این تصور و برداشت را داشته ای و داری که آزاد و مستقل و تصمیم گیرنده اصلی کشور بوده ای و هستی؟ آیا فکر می کنی که صاحب این کشور تو هستی و این سرزمین به تو تعلق دارد؟ -

ادامه دارد.

د سعودي دمفتي صيب فتوی!

سید ولي حامد

د سږ ني هجري قمري کال د عرفې دمبارکې ورځې خطبه چې د سعودي حکومت مفتي شیخ عبد العزیز دعرفې په ورځ وویله په نړیواله کچه ددرواغو قرباني شوې ده، داسې درواغ چې یوازې رسنۍ یې نه وایي، بلکې له رسنیو مخکې چارواکي داسې شخوند پرې وهي ته به وایي په کوم امریکایي هوټل کې برګر وهي، او بیا تعجب دا چې ځینې هغه ځپرې چې پر مخ او سر څه سپین اوتور لري، او ځانونه علم ته منسوبوي هغوی یې تر بل هر چا تیز ښوي.

دوی په وچو درواغو وایي چې د عرفې په سږ نۍ خطبه کې د سعودي کورنۍ مفتي استشهادي بریدونه ناروا بللي، او حال دا چې په سږ نۍ خطبه کې نوموړي مفتي صیب په هیڅ ډول استشهادي بریدونو ته اشاره نه ده کړې، که یې څوک نه مني نو دا دي دنوموړې خطبې لینکونه دې په خپلو چشمانو وګوري:

http://www.youtube.com/watch?v=0WejLUlVkCs

http://forsanhaq.com/showthread.php?t=337557

http://www.albkri.com/vb/showthread.php?t=3511

ما چې کله دا خبره واورېده نو مې دنوموړي مفتي صیب سږ نۍ خطبه را پیدا کړه، له پیل نه تر پای پورې مې دوه درې ځله ښه په غور واورېده، په یو ځای کې مې هم داسې څه وانه ورېدل چې استشهادي بریدونو ته دې هسې اشاره پکې شوې وي!

خو اوس دحیرت ځای دا دی چې دغه د کابل چارواکي، درباري ملایان یې او رسنۍ یې څومره سپین ستر ګۍ ته بدې راوهلې دي، سهار او بیګاه همدا ساز کوي چې د سعودي مفتي صیب دسږ نۍ کال دعرفې په خطبه کې استشهادي بریدونه ناروا ګڼلي دي، دغه جنابان یا خو په رواني ناروغۍ اخته دي، داسې چې په دې نه پوهېږي چې څه کوي او څه وایي! او یا دا چې دومره بې خبره او نا پوه دي چې په اصل حقیقت بالکل خبر نه دي هسې په پټو ستر ګو هوا ګزوي.

نور خو هر څنګه چې وي، آخر دغه عرفه به مو وشرموي، دعرفې آزار به در پسې شي، د عرفې مبارک نوم او مبارک حیثیت به مو هغه دخلکو خبره شین دود کړي، که نه داسې خو به خامخا شئ لکه د تنظیمونو مشران، هغوی کعبې شریفې ته ننوتل، هلته یې عهد سره وکړ چې نور به جنګونه نه کوو، مګر کله چې را ووتل بیرته همغه خرک او همغه درک و، دا دي نن یې ټول ګوري چې څه حیثیت ور پاتې دی، پایله یې څه شوه؟

زه دغه ځینو خپټورو ته وایم چې الله دې هدایت درته وکړي، نور ې خو مو هر ې نخرې وکړې، دامریکا ډول ته ونخښدئ، له ډالرو نه مو آن چې غوږونه او پزې هم ډکې کړې، نه له مخلوق نه وشرمېدئ او نه له خالق نه، له دې وروسته توبه وباسئ، که نه، نو په عرفه پسې خو درواغ مه وایئ، کم تر کمه دغه لینکونه خو یو ځل وګورئ، دعرفې خطبه په خپلو غوږونو واورئ چې حقیقت څه دی؟

دشمالي کوریا کامیابه اتومي ازموینه اودامنیت شوری

(حسن مومند)

دفروری په ۱۲ مې نېټې دشمالي اوجنوبي کوریا نه په سونو کیلومتره لرې په شمال شرقي سیمه کې دسمندر په تل کې یو کیلومتر لاندې د ري ایکټر په حساب د ۴.۹ نه تر ۵.۱ د پورې د زلزلې شدید ټکان محسوس شول ، په سرکې دا طبعي زلزله ګڼل کېدله خو جاپان چې ددې زلزلې درامنځته کېدلو خبر یې تر ټولو ړومبی ورکړی و ددې ترڅنګ چې دا یې طبعي زلزله ګڼله ورسره یې دا هم ویلي و چې د ځمکې دا ټکان دعامو زلزلو نه بدل وو ، چین یې په اړه ویلي و چې شاید داکومه اتومي چاودنه وي او دملګرو ملتونو ادارې هم ویلي و چې ددې زلزلې خصوصیات چاودنې ته ورته وو.

هو ! شمالي کوریا چې دزلزلو سیمه نده بیا همدا ثابته شوه چې دا طبعي زلزله نه بلکې شمالي کوریا چې لا دمخه دکومې اتومي ازموینې ګواښ کړی وو دا دهماغی اتومي ازموینې له امله رامنځته شوي ټکان وو ، ژر پخپله شمالي کوریاددې تصدیق وکړ ، اوښه په زغرده یې ومنله چې دوئ دریمه کامیابه اتومي ازموینه کړیده چې زلزله هم له همدې امله رامنځته شوی وه.

تېره میاشت دشمالي کوریادولت اعلان کړی وچې دشمالي کوریا داتومي پروګرام دپر مخ بیولو په سر د ملګرو ملتونوله لورې دلګېدلو سختو بندیزونو جواب به په یوې بلې اتومي ازموینې ورکړي چې همداسې یې وه هم کړل ، دشمالي کوریا دولتي اژانس کی، سی.این کی . داوسنۍ ازموینې اړه په خپور کړي راپورکې د دولتي لوړپوړو چارواکو له خولو لیکلي و چې دا یوه کوچنۍ خو د لوړې درجې اتومي ازموینه وه چې ساینسپوهانو د ځمکې لاندې په مصئونه او غوره طریقې په بریالیتوب تر سره کړه ، داد ماضي په نسبت تر ټولو زوروره اتومي ازموینه وه خو په چاپېریال یې هیڅ منفي اغېزې ندي پرېوتي، په راپور کې دا هم راغلي چې دا ازموینه د شمالي کوریا د تېرې راکټي کامیابې ازموینې په مقابل کې د امریکا د جارحیت پر ضد د هیواد د ملي دفاع لپاره د پورته شوو اقداماتو یوه مهم برخه ده.

محترمو لوستوالو ته به یاد وي چې تېرکال د دسمبر په ۱۲مې نېټې شمالي کوریا د لرې واټن ویشتونکي توغندي ازموینه کړې وه ، ددې توغندي په مرسته یې خلایي مدار ته یوه سپوږمکۍ هم پورته کړې وه چې داددې هیواد لپاره یو ستر بریالیتوب و، ددې ازموینې نه پس د ملګرو ملتونو د امنیت شوری پر شمالي کوریا لګیدلو بندیزونو کې ډېروالی راوړ، د امنیت شوری ددې اقدام په وړاندې د عکس العمل ښکاره کولو په موخه شمالي کوریا د خپل اتومي پروګرام په سر مذاکرات رد او اعلان یې وکړ چې خپل اتومي صلاحیت به لاپسې پیاوړي

کړي ،هماغه وو چې تېره مياشت يې اعلان وکړ چې دريمه اتومي ازمويښه به وکړي
امريکا ، جاپان او جنوبي کوريا په سختو ټکو شمالي کوريا د دريمې ازمويښې نه منع کړي وه او د مخالفت په صورت کې يې د بدو غواقبو سره د مخامخ کېدو اخطار هم ورکړی و ، چين چې د شمالي کوريا د تجارتي متحدينو نه دی هم شمالي کوريا د اتومي ازمويښې نه منع کړې وه خو شمالي کوريا د دښمنانو او دوستانو کې دهيڅا پروا ونه ساتله او د خپل دفاعي خواک د پياوړي کولو په موخه يې دريمه بريالی اتومي ازمويښه ترسره کړه.
شمالي کوريا له دې وړاندې هم رومبی په ۲۰۰۲ او بيا په ۲۰۰۹ کې اتومي ازمويښې کړې وې.
دې هېواد د اين.ايف.ټي ياني د وسلو د نه خپراوي تړون لاسليک کړی و او پدې هيله يې دې تړون ته خپله پوره ژمنتيا هم ثابته کړې وه چې د امريکا له لورې ورته متوجې خطرونه به له منځه ولاړ شي خو چې د شمالي کوريا او بو ته په اتومي وسلو سمبال د امريکا بيړۍ او بټلونو تلل راتلل بند نه شول او بحرالکاهل ، جاپان او جنوبي کوريا کې د امريکا په فوځي اډو کې د مېشتو امريکايي فوځيانو له لورې د شمالي کوريا محاصره هم ختمه نه شوه نو شمالي کوريا د خپل ځان نه د دفاع په موخه په اتومي پروګرام پيل وکړ او د ۱۹۹۳م په مارچ کې يې د اين.پي.ټي سره کړی تړون لغوه اعلان کړ خو لږه موده پس د امريکا او نورو ستروقدرتونو سره د مذاکراتو نه پس په اين.پي.ټي کې يو ځل بيا داخله شوه ، د ۱۹۹۴م د جولائي په ۸مه نېټه د امريکا سره د يو عارضي رامنځته شوي تړون له مخې د خپل اتومي پروګرام نه په دې شرط لاس په سر شوه چې امريکا به د سون مواد او د برېښنا د لاسته راوړلو لپاره د ملکي اتومي پروګرام د پرمخ بيولو لپاره پرزې ورکوي خو چې امريکا د يادو څيزونو په ورکولو کې مخلصه نه وه او نه يې هم د بحرالکاهل ، جاپان او جنوبي کوريا د فوځي اډو نه خپل فوځونه کم کړل نو شمالي کوريا په خپل اتومي پروګرام ښه په تيزی سره کار پيل کړ تردې چې په ۲۰۰۲م کې د رومبی او په ۲۰۰۹ کې د دوهمې اتومي ازمويښې جوګه شو او اوس يې دا دی دريمه بريالی ازمويښه هم ترسره کړه.
امريکا ، جاپان او جنوبي کوريا د دې ازمويښې سخته غندنه کړيده ، د امنيت شوری پدې اړه بېړنی غونډه راوغوښته ، د دې ازمويښې غندنه يې وکړه او ويې ويل چې د شمالي کوريا پرضد به نوو ګامونو اخستلو کار پيل شويدی.
د خپلې دندې نه ګوښه شوي د امريکا پخواني دفاع وزير ليون پنيتا ويلي دي چې شمالي کوريا د امريکا لپاره په يو شديد خطر بدل شويدی ، امريکا بايد د شمالي کوريا او ايران په څېر د بدماشو هېوادونو د خطرونو د مخنيوي په موخه ګرندي ګامونه پورته کړي.
د امريکا وسلمشر د شمالي کوريا او سنۍ ازمويښه يو جارحانه عمل ګڼلی ويلي يې دي چې ,,پدې کار د سيمې امن ته ګواښ متوجې شويدي ،اوباما پدې اړه د جنوبي کوريا وسلمشر سره ټيلفوني تماس هم ټينګ ګړيدي د ۲۰۰۲او ۲۰۰۹ په پرتله د اوسنۍ طاقتوري اتومي ازمويښې نه دا معلومېږي چې شمالي کوريا خپل فنی صلاحيت دومره پياوړی کړی چې اتومي بم جوړ او په لړۍ واټن ويشتونکې بالاستيکي توغندي کې يې تر لړۍ هدفه ورسوي ، په ۱۹۴۵م کې د دوهم نړيوال جنګ په شپو ورځو کې شمالي کوريا د چين او روسې نه د کيمياوي وسلو او د دې وسلو د ضررونو نه ډک ژغورلو طريقې زده کړې وې د ۱۹۵۹ نه پس يې د جوړولو کار پيل کړی و او په ۱۹۸۹م کې يې جوړولو ته لاره هموارلی وه ، ځکه خو د امريکا جاسوسه اداره ادعاکوي چې شمالي کوريا د کيمياوي وسلو يوه د يادولو وړ زېرمه له ځان سره لري.

که شمالي کوریا ریښتیا هم همدومره ځواک وي لکه چې رسنیو کې ویل کېږي نو بیا خو بې له شکه چې جاپان او جنوبي کوریا ته دا هېواد ګواښ دی خو دومره ستر هم نه څومره یې چې امریکا ستر وي او پر ضد یې تبلیغات کوي که وکتل شي دجاپان او جنوبي کوریا سره دمخالفت لامل هم امریکا ده ، امریکا په جاپان او جنوبي کوریا کې فوځی اډې لري چې د یاد هر هېواد په دې اډوکې تر ۳۸ زرو پورې فوځیان مېشت دي او دهمدې اډونه امریکا شمالي کوریا تحدیدوي.

نو کومه امریکا چې شمالي کوریا یې په جاپان ، جنوبي کوریا او بحرالکاهل کې دموجودو فوځي اډوله لارې محاصره کړې او تحدیدوي یې شمالي کوریا په تمامو معنو حق لري چې دخپل ځان دبقا او د دفاع لپاره خپل اتومي پروګرام مخ په وړاندې بوځي ، دامنیت شوری له لورې دشمالي کوریا اتومي ازموینه غندل یا ورباندي بندیزونه لګول دامریکا په حکم کېږي ، که دامنیت شوری سره د جنوبي کوریا او دجاپان غم وي او دشمالي کوریا پر ضد اقدامات ددې دواړو هېوادونو د مصئونیت لپاره وي نو بیا ورته د اسرائیلو د اتوم بمونو هغه زېرمې ولې نه ښکارېږي د کومو له امله چې ټوله غربي نړۍ او خصوصا هغه ګاونډي هېوادونه تحدیدوي دکومو چې د اسرئیلو سره سیاسي او تاریخي لانجې شتون لري ؟

او دامنیت شوری ته هغه امریکا او نور غربي زبرځواکونه ولې نه ښکارېږي کوم چې دتحدید او ګواښ نه ډېر وړاندې تللي دي او د خپلو پرمخ تللو وسلو پر مټ داسلامي نړۍ په ګڼو هېوادونو کې دمظلومو مسلمانانو په عام قتل بوخت دي ؟

حقیقت دادی چې دملګرو ملتونو نا پیلتوب اوس زړې او دا واقعیت نه لرې خبرې ګرځېدلي دي ، دا اداره یوه لاسپوڅی اداره ده ، په هره مسئله کې دامریکا او نورو سترو غربي هېوادونو طرفداري کوي او دهمدوئ ګټې په پام کې او دکوم هدف لپاره چې جوړه شوې وه فعالیت یې بېخې دهغه هدف پر ضد روان دی ځکه خو ورځ تر بلې خپل اعتماد او اعتبار له لاسه ورکوي امید دی چې ډېره بقابه ونکړي ، له منځه به ولاړه شي او مظلوم ملتونه به یې دتل لپاره د ضررونونه خوندي شي.

وجهي تاکتیکي تګ وکړي او ددښمن له امنیتي پوستو تیر شي او ټاکلی هدف ترلاسه کړي.

۲ـ ماشوم په جهادي صفوفو کې استخدامول جدا داخلاقي مفاسدو سبب ګرځي چې شرعا ممنوع دي ، په دې اړه داسلامی امارت دفدایي بریدونو په ځانګړي لارښود کې د راغلي:

(۱۹ ماده ـ په ټولو جهادي وظائفو او بیا خاصت په فدایي بریدونو کې د لغړ زنو او کشرانو استخدام او کارول جداً منع دي باید ټول یې په مخ نیوې کې هڅه وکړي.)

نو دپورته دلائلو سره سره بیا هم دیانکوبیش په سویه ناسمه خبره کول څه معنی لري ؟

آیا دا ادعا نه په ګوته کوي چې ستاسو معلومات ټول زموږ ددښمنانو د تش ادعاوو په بنسټ ولاړ دي ؟

آیا موږ لا هم شک ولرو چې تاسو په داسي خبرو سره نه غواړئ حقائق برملا کړئ ؟

آیا زموږ خلک به لاهم پرتاسو او ستاسو په معلوماتو او راپورونو باور وکړئ ؟

آیا موږ کولای شوو تاسو لاهم دیو بې پرې ارګان په صفت وپیژنو ؟

دافغانستان اسلامی امارت

۱۴۳۴/۴/۱۱هـ ق

۱۳۹۱/۱۱/۳هـ ش ـ ۲۰۱۳/۲/۲۱م

معیار حضرت عمر رضی الله عنه در انتخاب والیان وکارگزاران

(بدخشانی)

عدالت، رکن رکین حکومتداری است اگر با معیار عدالت، عملکرد دولت ها و حکام گذشته و فعلی را ارزیابی کنیم، درمی‌یابیم که همواره کفهٔ بی‌عدالتی‌ها و نابرابری‌ها بر کفهٔ عدالت و برابری سنگینی کرده است؛ چنان‌که بسیاری از حکام و دولت مردان توفیق چندانی برای حاکم کردن عدالت درجوامع تحت سلطهٔ شان نداشته‌اند و همین امر سبب شده تا مطالعهٔ تاریخ بسیاری از دولت ها و حکومت ها، مرور رنج ها و ناملایمات ملت های تحت سلطه چنین حکومت هایی باشد، و وجدان انسانی از مطالعهٔ آن مکدّر شود. البته دولت ها و حکامی نیز بوده‌اند که برای اجرای عدالت کوشیده و در تاریخ سیاسی جهان خوش درخشیده‌اند و نام نیک‌شان در تاریخ جاویدان شده است. بدون شک ظهور اسلام که سرآغاز عصر نوینی در تجدید مفاهیم، ارزش ها، روش ها ونظام ها در حیات جامعهٔ انسانی بود، به‌دو شکل تاریخ حکومت ها را دگرگون کرد:

بدون شک ظهور اسلام که سرآغاز عصر نوینی در تجدید مفاهیم، ارزش ها، روش ها ونظام ها در حیات جامعهٔ انسانی بود، به‌دو شکل تاریخ حکومت ها را دگرگون کرد:

1-ارایه شیوه های برتر حکومتداری در قالب «حکومت نبوی» و «خلافت راشده» همراه با مفهوم نوینی از عدالت و نظم

2-تربیت مردانی که مجری و پاسدار عدالت در جامعه بودند. درصدر این مردان که در مکتب اسلام و زیر نظر مربی کامل بشریت، حضرت محمّد مصطفی ، صلی‌الله‌علیه‌وسلّم، تربیت شدند ، «خلفای راشدین» قرار دارند

که سخن گفتن از هر یک از آنان، سخن گفتن از انسان های کامل و نمادهای والایی است که ارزش‌ها و مفاهیم انسانی و اجتماعی در وجود آنها تبلور یافته و آنان به‌حق ثمرهٔ اعلای مکتب انسان‌ساز نبوی هستند. در میان خلفای راشدین، حضرت عمر فاروق، رضی‌الله‌عنه، دومین خلیفهٔ مسلمانان، به‌حق شخصیتی است که تاریخ ادیان مختلف، شخصیتی همانند ایشان را به خود ندیده است و زندگی ایشان از آغاز اسلام‌آوردن تا پایان خلافت، سرشار از شگفتی است؛ چنان‌که عملکرد ایشان را می‌توان از معجزات اسلام و پیامبر اسلام دانست. همچنین نقش بارز ایشان در انتشار جهانی دعوت اسلامی و گسترش دامنهٔ فتوحات و قلمرو جهان اسلام، و ارائهٔ الگوی جامع و کامل یک نظام حکومتی کارآمد و عدالت محور در دوران ده‌سالهٔ خلافت، ایشان را در شمار معدود نوابغ دنیای حکومت و سیاست قرار داده است. ازآنجاکه بررسی همهٔ ابعاد زندگی سیاسی حضرت عمر، رضی‌الله‌عنه، از حوصلهٔ این نوشتار خارج است، در این‌جا به اجمال به شیوهٔ انتخاب کارگزاران و نظارت بر عملکرد آنان در عهد فاروقی اشاره می‌کنیم. شیوهٔ خلیفهٔ دوم در انتخاب کارگزاران .امیرالمؤمنین عمر، رضی‌الله‌عنه، در انتخاب و تعیین والیان و کارگزاران از شیوه و سنّت نبوی پیروی می‌کرد و موفقیت ایشان در این کار، مرهون اتباع از رسول‌الله، صلی‌الله‌علیه‌وسلم، بود. ایشان پس از تحقیق و بررسی لازم و با دقت تمام، شایسته ترین و توانمندترین فرد را برای پیشبرد اهداف نظام اسلامی انتخاب می‌کرد.

امانت داری و توان مدیریتی، دو هدف مهم ایشان در تعیین کارگزاران بود. وی معتقد بود تعیین شخصی که از او فرد شایسته تری وجود دارد، خیانت به خدا و رسول و مؤمنین است و می‌گفت: «من قلد رجلاً علی عصابة و یجد فی تلک العصابة من هو أرضی لله فقد خان الله و خان رسوله و خان المؤمنین.پیش از بررسی معیارهای حضرت عمر در تعیین کارگزاران، اشاره به این نکته ضروری است که این معیارها از مطالعهٔ سیرهٔ سیاسی و الگوی عملی حضرت فاروق در دوران خلافت به دست آمده است؛ برخلاف بیانیه ها و برنامه های اعلامی و مکتوب بسیاری از دولت ها و حکومت ها که فقط در حد ادعا و شعار مطرح می‌شوند و سیاست های عملی و اجرایی آنها چیزی جز آن است؛ چنان‌که امروزه دوگانگی در عرصهٔ سیاست‌گزاری و اجرا، به امری معمول تبدیل شده است، و این رویکرد را نوعی شگرد در جهان سیاست می‌دانند تا از نقد مخالفان داخلی و خارجی مصون بمانند.

د امام ابوحنیفه رحمه الله د محدثینو د شویو نیوکو شننه او څېړنه

پوهندوی اسرار الحق (منیب)

لنډیز:

په دې علمي او څېړنیزه مقاله کې چې (پر امام ابوحنیفه رحمه الله د محدثینو د شویو نیوکو شننه او څېړنه) تر سرلیک لاندې لیکل شوې، پر امام ابوحنیفه رحمه الله د حدیثو په هکله د شویو اعتراضونو اصلي حقیقت او بنه څرګنده شوې، په میزان الاعتدال کې د امام ابوحنیفه رحمه الله په هکله الحاقي عبارت چې په اصل نسخه کې وجود نه لري هم په دقیقه توګه څېړل شوی؛ د ائمه و په هکله د بې ځایه اتهاماتو څخه د برائت لپاره یو لړ اصول او قواعد ذکر شوي چې په خپل ځای کې یې لوستل اړین بلل کېږي.

سریزه:

امام ابوحنیفه رحمه الله د کوفې اوسېدونکی، په (۸۰) هجري کې زېږېدلی او په یوسل او پنځوس هجري قمري کې یې سترګې له دې فاني نړۍ څخه پټې کړې دي. په خپله تابعي او د صحابه و د ملاقات او لیدنې اعزاز او شرف ورته حاصل شوی، د علم یوه ستره خزانه وه او د دین په اشاعت کې یې نه ستړې کېدونکي هلې ځلې او د فقهي مسایلو اجتهاد او استنباط یې هغه څه دي چې له یوه طرفه یې ستاینه کېدای شي، نو له بل طرفه دیو شمېر متعصبینو له خوا په داسې څه تورن شوی چې هیڅ حقیقت نه لري. د نړۍ په ګوټ ګوټ کې د امام ابوحنیفه رحمه الله د پیروانو ډېروالی او د مذهب اشاعت یې د دې ښکارندوی دی چې امام ابوحنیفه رحمه الله د یادو اعتراضونو څخه پاک او د اسلامي شریعت یو غښتلی محدث، فقیه او مجتهد شخصیت و.

دا چې په ټولنه کې له مخالف څخه پرته ژوند تېرول هم د انسان د شخصیت په کمال دلالت نه کوي، نو مخالفتونه او اعتراضونه هم د نومورې امام په باره کې هغه څه دي چې د نومورې شخصیت ته یې درنښت وربخښلی او د هغه د علم ښکارندوی دی، پر امام ابوحنیفه رحمه الله د شویو اعتراضونو څو ډلګې په لاندې ډول دي:

۱ پر امام ابو حنیفه رحمه الله باندې په نبوي حدیثونو کې د ضعف اطلاق

۲: د کمو حدیثونو روایت کول

۳: د امام ابوحنیفه رحمه الله په ضعیفه حدیثونو باندې استدلال

دا او داسې نور ټول هغه اعتراضونه دي چې په راتلونکي بحث کې به ورڅخه پرده پورته شي او د الله جل جلاله په توفیق سره به یې ځوابونه، تحلیل او تجزیه ترسره شي او د حدیثو د زده کوونکو لپاره به د امام ابوحنیفه رحمه الله په هکله د ذکر شویو اعتراضونو اصلي بڼه معلومه او شکونه به یې له منځه ولاړ شي.

موخې:

په دې علمي او څېړنیزه مقاله کې لاندې اهداف په نظر کې نیول شوي دي:

۱: د خپلو اسلافو، ائمه و او مجتهدینو په هکله له بې ځایه ویناوو څخه ځان ژغورنه

۲: د مذاهبو څلور ګونو امامانو او د دوی په څېر نورو علمي څېړو درناوی او د هغوی په اړه له رد او بد ویلو څخه ځان ساتل

۳: د حدیثو د علم زده کوونکي په دې پوهول چې امام ابوحنیفه رحمه الله د فقاهت او اجتهاد تر څنګ یو لوی محدث هم و.

مواد او کړنلاره:

په دې علمي مقاله کې د څېړنې له مختلفو میتودونو او تګلارو څخه د کتابتوني څېړنې لاره غوره شوې او کوښښ شوی چې له باوري او معتمدو مراجعو او مصادرو یې کې استفاده وشي.

لومړی اعتراض:

دارقطني په خپل سنن کې د (من کان له إمام فقراة الإمام له قراة و اختلاف الروایات) تر باب لاندې داسې ذکر کړي (حدثنا علی بن عبد الله بن مبشر ثنا محمد بن حرب الواسطی ثنا إسحاق الازرق عن أبی حنیفة عن موسی بن أبی عائشة عن عبد الله بن شداد عن جابر قال قال رسول الله صلی الله علیه و سلم: من کان له إمام فقراة الامام له قراة لم یسنده عن موسی بن أبی عائشة غیر أبی حنیفة والحسین بن عمارة و هما ضعیفان (٦: ج ٢ ص ١٠٧-١٠٨)

د پورتنۍ حدیث د سند په هکله دارقطني وایي: دا حدیث د موسی بن ابي عائشة څخه، له ابوحنیفه او حسن بن عماره نه پرته بل چا موصول نه دی روایت کړی او دا دواړه ضعیف دي.

څرګنده شوه چې امام دارقطني په امام ابوحنیفه رحمه الله او حسن بن عماره باندې د ضعف اطلاق کړی، لیکن د نومورې دې ویناته د لاندې تحقیق په اساس هیڅ ځای نه پاتې کېږي:

۱: د جرح په هکله باید فکر او غور وشي چې دا جرح د چا له لوري واقع شوې، که جارح د علم، تقوی او ربښتینولۍ څښتن نه وي د نفسي غوښتنو او تعصب خوښوونکی وي، نو واضحه ده چې د نومورې جرح د منلو وړ نه ده او په خپله د جرح کوونکي عدالت له منځه وړي او مجروح ګنهل کېږي؛ مګر که جرح کوونکی د عدالت او تقوا څښتن وي، نو په کار ده چې لاندې اصلونه د جرح کوونکي او مجروح په هکله له پامه ونه غورځول شي:

الف: که مجروح شخص عادل، امام او د عظمت څښتن وي، د نومورې په حق کې جرح باطله او ناسمه ګنهل کېږي.

ب: که جرح کوونکی د عدالت څښتن وي د یو بل عادل او د امامت څښتن شخص په هکله نه د نومورې جرح په نظر کې نیول کېږي او نه مورِ نومورې د خپلې جرحې پر اساس مجروح ګڼو. (۱۲: ص ۷۰-۷۱)

د پورتني اصل په بناء څرګنده شوه چې د کوم شخص امامت او عدالت د تواتر حد ته رسېدلی وي، نو د هغه په باره کې د یو او یا دوه درپو کسانو جرحه معتبره نه ده او د امام ابوحنیفه رحمه الله عدالت او امامت هم دې حد ته رسېدلی دی او که چېرې د ائمه و او د جلال د خاوندانو په باره کې د هر چا جرحه ومنو، نو هیڅ یو امام به هم ثقه پاتې نه شي، ځکه چې په لویو لویو ائمه و باندې د یو نه یو جرح ضرور موجوده ده؛ لکه په امام شافعي رحمه الله باندې د یحی بن معین او په امام احمد باندې د امام کرابسي، په امام بخاري د ذهلي او په امام اوزاعي باندې د امام احمد جرح او داسې نور. (۱۱: ص ۹۲)

دلته یو شمېر خلک او په ځانګړې توګه د دې عصر جاهلان اعتراض کوي چې جرح په تعدیل باندې مقدمه وي، نو کله چې د امام ابوحنیفه رحمه الله په هکله جرح او تعدیل دواړه ثابت شي، نو جرح به مقدمه ګڼلی شي.

ځواب: دا اعتراض د جرح او تعدیل په اصولو باندې له ناپوهۍ څخه راولاړ شوی، ځکه چې په مطلقه توګه جرحې ته په تعدیل باندې ترجیح نه شي ورکول کېدای، بلکې علماو د دې لپاره دوه لارې اختیار کړې:

لومړی طریقه: د جرح او تعدیل د تعارض په صورت کې به د جارحینو او یا معدلینو تعداد په نظر کې نېول کېږي، د هر لوري چې تعداد زیات و، په همغې به عمل کېږي. (۴: ج ۱ ص ۱۰)

اوس نو که چېرته په پورتني نظر عمل وشي نو څرګنده ده چې د امام ابوحنیفه رحمه الله معدلین د جارحینو په نسبت ډېر زیات دي په دې هکله دې د جرح او تعدیل کتابونو ته مراجعه وشي.

دویمه طریقه: د جرح او تعدیل د تعارض په صورت کې د جمهورو علماؤ په نزد جرح ته په تعدیل هغه وخت ترجیح ورکول کېږي چې کله جرح مفسره وي (۱: ص ۵۰-۵۱)

او د امام ابو حنیفه رحمه الله په هکله چې څومره جرحې دې، نو دا ټولې مبهمې او له تفسیر څخه خالي دي.

۲: په همدې توګه امام نسائي هم د امام ابو حنیفه رحمه الله په هکله ویلي دي (نعمان بن ثابت ابو حنیفة لَیْسَ بِالْقَوِیِّ فِی الْحَدِیثِ). (۱۴: ج ۱ ص ۲۳۳)

د امام نسائي د جرحې په ځواب کې هم مخکېنی تفصیل کافي بلل کېږي.

۳: د دارقطني او نسائي پورتنۍ جرحه امام ذهبي په میزان الاعتدال کې د امام ابو حنیفه رحمه الله په ترجمه کې داسې ذکر کړې (النعمان بن ثابت بن زوطی، أبو حنیفة الکوفی إمام أهل الرأی ضعفه النسائی من جهة حفظه و ابن عدی و آخرون. (۸: ج ۴ ص ۲۶۵)

ځواب: یو شمېر خلک د امام ابوحنیفه رحمه الله د ضعف په باره کې د امام ذهبي په پورتني عبارت باندې استدلال کوي لیکن دا عبارت د میزان الاعتدال په اصل نسخه کې موجود نه دی، بلکې وروسته په متن کې د بل چا له خوا د تعصب په بناء ور زیات شوی چې په اړه یې لاندې دلایل ذکر کوو:

۱: حافظ ذهبي د میزان الاعتدال په مقدمه کې په صراحت سره داسې یادونه کړې: وکذا لا أذکر فی کتابی من الائمة المتبوعین فی الفروع أحدا لجلالهم فی الاسلام وعظمتهم فی النفوس، مثل أبی حنیفة، والشافعي، والبخاری فإن ذکرت

أحدا منهم فأذكره على الانصاف.(ج ۴ ص۲۶۵)
د یادونې وړ ده چې امام ذهبي وايي زه په خپل دې کتاب کې د امام ابوحنیفه، شافعي او بخاري رحمهم الله په څېر د قدر وړ شخصیتونو یادونه نه کوم... نو اوس څرنګه کېدای شي چې له داسې صریحو الفاظو ذکر کولو څخه وروسته دې بیا امام ذهبي د امام ابوحنیفه رحمه الله په هکله داسې الفاظ ذکر کړي وي؟

۲: د کومو لویو امامانو یادونه چې حافظ ذهبي په میزان الاعتدال کې نه ده کړې، د هغوی د ذکر کولو لپاره یې یو مستقل کتاب د تذکرة الحفاظ په نوم لیکلې او په هغې کې یې د امام ابوحنیفه رحمه الله د یادونې تر څنګ ډېر توصیف کړی چې په لاندې توګه یې رانقلوو:

((أبو حنیفة الامام الاعظم فقیه العراق النعمان بن ثابت بن زوطا التیمی مولاهم الکوفی مولده سنة ثمانین رأی انس بن مالک غیر مرة لما قدم علیهم الکوفة رواه ابن سعد عن سیف بن حابر انه سمع ابا حنیفة یقوله وحدث عن عطاء ونافع وعبد الرحمن بن هرمز الاعرج وعدی بن ثابت وسلمة بن کهیل وابی جعفر محمد بن علی و قتادة و عمرو بن دینار و ابی اسحاق و خلق کثیر تفقه به زفر بن الهذیل و داود الطائی والقاضی أبو یوسف و محمد بن الحسن و اسد بن عمرو و الحسن بن زیاد الؤلؤی و نوح الجامع و ابو مطیع البلخی و عدة. و کان قد تفقه بحماد بن ابی سلیمان و غیره وحدث عنه وکیع و یزید بن هارون و سعد بن الصلت و ابو عاصم و عبدالرزاق و عبیدالله بن موسی و ابونعیم و ابوعبدالرحمن المقری و بشر کثیر. و کان اماما ورعا عالما عاملا متعبدا کبیر الشأن لا یقبل جوائز السلطان بل یتجر و یتکسب.)) (۷: ج ۱ ص ۱۶۸)

له پورتني عبارت څخه د امام ابو حنیفه رحمه الله د تابعیت ثبوت، د حدیثو او فقهي استادان، شاګردان او د نوموړي تقوا او پرهېزګاري په ډاګه څرګندېږي چې دا د امام ابوحنیفه رحمه الله د شان په لوړوالي او د هغه په لوړ شهرت دلالت کوي.

۳: لسان المیزان د ابن حجر عسقلاني لیکنه په حقیقت کې د میزان الاعتدال د فهرست په څېر او پر هغې مبني دی، نو د کومو رجالو او اشخاصو یادونه چې په میزان الاعتدال کې نه شته هغه په لسان المیزان کې هم نه موندل کېږي، نو دا هم څرګند دلیل دی چې د میزان الاعتدال په اصل نسخه کې د امام ابوحنیفه رحمه الله ذکر نه شته او په اوسنیو نسخو کې چې ذکر دی، هغه وروسته په الحاقي ډول بل چا ورځای کړی دی. (۲: ج ۱ ص ۱)

۴: په همدې توګه د میزان الاعتدال هندي طبعه چې د لکنو ښار په انوار محمدي چاپ خونه کې په ۱۳۰۱هـ کې چاپ شوی، د هغې په اصل متن کې هم د امام ابوحنیفه رحمه الله په هکله څه نه دي ویل شوي، بلکې په حاشیه کې په دوه کرښو کې یې ذکر شوی؛ مګر کله چې په ۱۳۲۵هـ ق کې دا کتاب په مصر کې چاپ شو، نو بیا له حاشیې څخه متن ته پرته له کومې یادونې څخه دا الفاظ نقل شوي دي. په همدې توګه عبدالفتاح ابوغده رحمه الله وایي ما د میزان الاعتدال درېیم جلد د دمشق په ظاهریه مکتبه کې د ۳۶۸ نمبر حدیث لاندې وموند چې دا یو ډېر ښکلی جزء او د جیم په حرف باندې شروع او

د کتاب تر پایه رسېدلی و، دا نسخه د امام ذهبي شاګرد حافظ شرف الدین عبدالله بن محمد اکواني الدمشقي په خط لیکل شوې وه او په خپل استاذ یې درې کرته لوستلې او د اصل سره مقابله شوې هم ده چې په اړه یې د (۱۰۹ او (۱۵۹) پاڼې په شا باندې هم د دې خبرې یادونه شوې، سره له دې په نورو دېرو ځایونو کې هم د دې نسخې د لوستلو او اصل سره یې د مقابلې یادونه شوې؛ لیکن ما پکې د امام ابوحنیفه رحمه الله ترجمه او یادونه نه د (نون) په حرف کې او نه د کنیو په ذکر کولو کې وموندله.

همدارنګه هغه نسخه چې په حلب کې ۳۳۷ نمبر لاندې په احمدیه کتاب خونه کې ساتل شوې او یوه دېره ښه نسخه او په ۱۱۶ کې د علي بن محمد چې په شمشان شهرت لري په خط لیکل شوې، په دې نسخه کې هم د امام ابوحنیفه رحمه الله په هکله څه نه و لیکل شوي. (۱۲: ص۱۲۲)

د پورتنیو څرګندونو څخه واضح شوه چې په میزان الاعتدال کې د امام ابوحنیفه رحمه الله د عیب او حدیثو کې د ضعف په هکله د هیڅ شي ذکر نه شته او په اوسنیو نسخو کې چې څه لیدل کېږي هغه وروسته د امام ابوحنیفه رحمه الله د متعصبینو له خوا پکې ور اضافه شوي دي.

دویم اعتراض: په روایت کې د حدیثو په قلت باندې د امام ابوحنیفه رحمه الله عیبجن کول؛ په دې هکله علامه ابن خلدون داسې څرګندونه کړې: ((واعلم أیضاً أن الأئمة المجتهدین تفاوتوا فی الاکثار من هذه الصناعة و الاقلال فأبوحنیفة رضی الله تعالی عنه یقال بلغت روایته إلی سبعة عشر حدیثاً أو نحوها.)) (۳: ج ۱ ص ۲۵۵)

یعنې پوه شه چې امامان مجتهدین د حدیثو په صنعت کې د لږوالي او ډېروالي په اساس یو د بل سره توپیر لري، د هغه ابوحنیفه رحمه الله په باره کې وېل کېږي چې د نومورې روایتونه اوولس او یا دې ته ورته دي.

همدا راز ابن عدي رحمه الله ویلي: ((ان الامام اباحنیفه لم یرو الا ثلاث مائة حدیث.)) (۲: ص۷۳) یعنې امام ابوحنیفه رحمه الله یوازې درې سوه حدیثونه روایت کړي دي.

ځواب: د ابن خلدون او ابن عدي پورتنۍ دعوې د لاندې دلایلو په رڼا کې بې بنیاده او د امام ابوحنیفه رحمه الله په اړه د نومورو بې خبرې ګڼل کېږي:

۱: دا چې علامه ابن خلدون ویلي چې امام ابوحنیفه رحمه الله یوازې ۱۷ حدیثونه روایت کړي، نو د دې خبرې په ځواب کې همدومره کافي ده چې د امام ابوحنیفه رحمه الله مسانید خو هم له ۱۷ څخه زیات او شمېر یې تقریبا شلو (۲۰) ته رسېږي او په مسند لیکونکو کې یې یو شمېر لوی لوی شخصیتونه لکه ابونعیم اصفهاني، حافظ ابن عساکر، حافظ ابوالعباس، حافظ ابن منذر او حافظ ابن عدي شامل دي.

د امام ابو حنیفه رحمه الله په مسند لیکونکو کې د ابن عدي نوم هم یاد شو چې په دې هکله د ابن عدي پورتنۍ اعتراض چې امام ابو حنیفه رحمه الله درې سوه حدیثونه روایت کړي هم دفعه شو، ځکه چې دا د ابن عدي د هغه وخت خبره ده کله چې نومورې ته د امام ابوحنیفه رحمه الله په هکله بشپړ معلومات نه وو او کله چې نومورې د امام طحاوي شاګرد شو نو بیا ورته د امام ابوحنیفه رحمه الله جلال، شان او قدر معلوم شو او له خپل نظر څخه وګرځېد.

۲: همدا راز کتاب الاثار د امام ابوحنیفه رحمه الله هغه لیکنه او اثر دی چې تر ټولو ډومبی په فقهي بابونو مرتب او دا افتخار او غوره والی یوازې امام ابوحنیفه رحمه الله ته حاصل دی، د امام ابوحنیفه رحمه الله دا کتاب د امام مالک د موطاء د ماخذ حیثیت لري، بلکې له دې څخه هم اوچت ګڼل کېږي؛ لکه چې امام ذهبي نقل کړي چې امام مالک رحمه الله به د امام ابوحنیفه رحمه الله په کتابونو کې د مسایلو کتنه کوله او له هغې څخه به یې ګټه پورته کوله، په همدې توګه څلور لوی- لوی شخصیتونه لکه امام ابو یوسف، امام محمد، امام زفر او امام حسن بن زیاد رحمهم الله د دې کتاب راویان دي.

د یادونې وړ ده لکه څرنګه چې امام بخاري خپل صحیح له شپږ لکه حدیثونو څخه انتخاب کړی، په همدې توګه د امام ابوحنیفه رحمه الله په زمانه کې د سندونو او راویانو د قلت سره سره نومورې خپل دا کتاب له څلوېښت زره احادیثو څخه انتخاب کړی. (۱۱: ج ۱ ص ۸۸-۸۹)

د پورتني ځواب په اساس ویلای شو چې د امام ابوحنیفه رحمه الله په وړاندې دا ډول تهمتونه یا د ویونکي پر بې علمۍ او د نومورې د شخصیت څخه په بې خبرۍ اویا په حسد سره بناء دي او دا ځکه چې د امام ابوحنیفه رحمه الله د شخصیت او علم په هکله د علماو یو څو ویناوې په لاندې ډول را نقلوو:

۱: بشر د حارث زوی وایي له عبدالله بن مبارک رحمه الله څخه مې اوربدلي چې ویل یې: ((لا یتکلم فی ابو حنیفة الا احد رجلین اما حاسد لعلمه و اما جاهل لا یعرف قدر حملته.)) (۱۰: ج ۱ ص ۲۴)

یعني د امام ابوحنیفه رحمه الله په هکله دوه ډوله خلک خبرې کوي، یو دا چې د هغه رحمه الله له علم سره کینه ولري او بل دا چې د علم په زده کړه او تحمل کې د هغه مقام او منزلت ونه پېژني.

۲: له سفیان ثوري رحمه الله څخه هم روایت شوی چې ویلي یې دي: ((ابو حنیفة رحمه الله فی العلم محسود.)) (۱: ج ۱ ص ۶۵)

یعني په علم کې د ابو حنیفة رحمه الله سره حسد کېږي.

درېیم اعتراض: دا چې یو شمېر علماو ویلي چې امام ابوحنیفه رحمه الله او احناف په ضعیفه حدیثونو باندې استدلال کوي، نو دا خبره یې ناسمه او د توضیح لپاره یې باید لاندې اصول په نظر کې ونیول شي:

اوله قاعده: یو شمېر خلک داسې فکر کوي چې ټول صحیح حدیثونه په بخاري کې دي او هغه صحیح حدیثونه چې پرته له صحیحینو څخه بل چا روایت کړي وي او د بخاري د حدیث سره په ټکر کې واقع شي، نو په هر حال کې به د بخاري حدیث ته ترجیح ورکول کېږي. دا خبره ځکه صحیح نه ده چې امام بخاري د ټولو صحیح حدیثونو ذکر په خپل کتاب کې نه دی کړی، لکه چې فرمایلي یې دي: ((ما أدخلت فی کتاب الجامع إلا ما صح، و ترکت من الصحاح مخافة الطول.)) (۹: ج ۱ ص ۷۴)

نو دا ممکنه ده چې یو حدیث په صحیحینو کې نه وي او د سند په لحاظ سره د صحیحینو د ځینو احادیثو نه یې مرتبه هم اوچته وي لکه چې مولانا عبدالرشید النعماني په (ما تمس الیه الحاجة) نومي کتاب کې د ابن ماجه ځینې داسې روایتونه نقل کړي چې د محدثینو د فیصلې په اساس سره د هغه سند د بخاري له سند نه هم افضل دی، نو دا چې بخاري له قران کریم څخه وروسته تر ټولو زیات صحیح کتاب ګڼل

شوی، هغه په مجموعي اعتبار سره دی، نه د هر حدیث په اعتبار سره.

دویمه قاعده : د حدیثو تضعیف او تصحیح یوه اجتهادي معامله ده، نو په کوم حدیث کې چې د محدثینو اراء مختلفې وي په دې صورت کې په هیڅ مجتهد ملامتي نه شي اچول کېدای او نه د یو مجتهد وینا پر بل باندې دلیل کېدای شي.

درېیمه قاعده: زیات وخت داسې کېدای شي چې له سلف صالحینو څخه مثلاً امام ابوحنیفه رحمه الله ته یو حدیث په صحیح سند سره رسېدلای وي، لیکن له هغه نه وروسته د حدیث په سند کې کوم ضعیف راوي راغلی وي چې د هغه په اساس وروستنیو علماؤ دا حدیث ضعیفه ګرځولای وي، نو اوس دا څرګنده ده چې د وروستنیو خلکو دغه تضعیف په امام ابوحنیفه رحمه الله باندې نه شي حجت کېدای له دې وجې نه دا ضرور نه ده چې کوم حدیث د امام بخاري په زمانه کې ضعیف ګڼل شوی وي هغه به په مخکې زمانه کې هم ضعیف وي.(۱:ج ۱ ص ۸۳)

څلورمه قاعده: ابن الصلاح په مقدمه کې ذکر کړي کله چې محدثین ووایي :((هذا حدیث صحیح))، نو ددې معنا دا ده چې په دې حدیث کې د صحیح هغه پینځه فني شرایط موجود شوي او چې کله ووایي : ((هذا حدیث غیر صحیح))، نو بیا یې معنا دا ده چې په دې حدیث کې د صحیح ظاهري یا فني شرطونه موجود نه دي؛ لیکن له دې دواړو څخه هر یو یې د اصل په بناء د صحت او ضعف احتمال لري ځکه چې په ثقه راوي کې هم د خطاء او نسیان او ضعیفه راوي کې د ریښتیا ویلو احتمال شته. (۱ : ص ۸) البته په دې احتمال تر هغې وخته پورې عمل کول جایز نه دي تر څو چې د دې احتمال ثبوت په نورو قراینو او دلایلو سره نه وي شوی، نو که په نورو قراینو سره د دې خبرې ثبوت وشو چې د دې صحیح حدیث راوي ته وهم شوی، نو بیا به په همدې حدیث عمل نه شي کېدای او یا که دا ثابته شوه چې د کوم مجتهد سره داسې قوي دلایل موجود دي چې د هغې په اساس هغه ضعیفه احتمال راجح کوي، نو په دې مجتهد دا حکم نه شي کېدای چې نومورې په ضعیفه راویانو او یا حدیثونو استدلال کوي، د بېلګې په توګه :

امام ترمذي رحمه الله په کتاب العلل کې لیکلي دي چې زما په کتاب کې دوه داسې حدیثونه موجود دي چې هیڅ کوم امام او فقیه پرې عمل نه دی کړی سره له دې چې د سند په لحاظ سره د استدلال وړ دي. (۵:ج ۲ ص ۲۳۳)

نومړی حدیث: په (باب ما جاء فی الجمع بین الصلاتین) کې دی، چې فرمایي : عن ابن عباس أن النبی صلی الله علیه وسلم جمع بین الظهر و العصر بالمدینة و المغرب والعشاء من غیر خوف و لا سفر ولا مطر. (۵:ج ۲ ص ۲۰۹)

دویم حدیث : د امیر معاویه رضی الله عنه دی چې فرمایلي یې دي : قال رسول الله علیه وسلم أنه قال إذا شرب الخمر فاجلدوه فإن عاد فی الرابعة فاقتلوه. (۵:ج ۲ ص ۴۲)

پینځمه قاعده: که یو حدیث ضعیف هم وي، خو چې د صحابه و د عمل تائید ورته حاصل شوی وي، نو عمل کول پرې جایز دي او دا

ډول حدیثونه امام ترمذي رحمه الله په خپل کتاب کې ذکر کوي او بیا وایي چې له صحابه و څخه پرې فلاني او فلاني او له تابعینو څخه پرې فلاني عمل کړی؛ د مثال په توګه حدیث: طلاق الامة تطلیقتان. (۵:ج ۱ ص ۲۲۳) حدیث د (لا وصیة لوارث) (۵:ج ۲ ص ۴۲) او حدیث د القاتل لا یرث (۵:ج ۲ ص ۴۰) سره له دې چې د سند په لحاظ سره ضعیف دي لیکن ائمه و او فقهاؤ د امت قبول کړي چې په دې ډول احادیثو باندې د احنافو عمل هم کومه بده او د عیب خبره نه ده.

شپږمه قاعده: که چېرې د دوه داسې حدیثونو ترمنځ تعارض راشي هغه دواړه د استدلال وړ دي، نو د محدثینو یوه ډله علماء د سند قوت په نظر کې نیسي او عمل پرې کوي لیکن په دې هکله د امام ابوحنیفه رحمه الله مسلک دا دی چې نوموړی هغه حدیث ته ترجیح ورکوي کوم چې د قرانکریم او یا شریعت د کلي اصولو سره موافق وي، برابره خبره ده چې د سند په لحاظ سره قوي وي او که نه. (۵: ص ۸۶)

د پورتنیو اصولو په نظر کې نیولو سره پر احنافو ټول اعتراضونه او نیوکې له منځه ځي او موضوع په واضحه ټکو سره روښانه کېږي.

پایله:

له پورتني بحث څخه دې نتیجې ته رسېږو چې په یو شمېر اعلامو او غښتلیو امامانو باندې ځینې خلکو د کینې او حسد له مخې نیوکې کړې او د امام ابوحنیفه رحمه الله په څېر نامتو عالم او امام هم ورڅخه خلاص نه دی، نوکه د مشهورو امامانو او علماؤ په هکله د جرح او تعدیل د پوهانو ویناوې لکه چې د لیکنې په منځپانګه کې مو ورڅخه یادونه وکړه په نظر کې ونیسو، نو د هیڅ یو امام شخصیت به زیانمن نه شي او نه به د الله جل جلاله په وړاندې د کوم بري شخص په هکله د غیبت موجب ګرځېدلی یو. تاریخ دا ثابته کړې چې په هر وخت او زمان کې د پوهانو په وړاندې خلکو له هر ډول تبعیض او تعصب څخه کار اخیستی او د هغوی علم او تقوایي د خپل شهرت په وړاندې د ستر ګو اغزي بللي، خو بیا هم د وخت پیاوړیو علماؤ او متدینو پوهانو د حق څرګندونه کړې او خپل ديني رسالت یې د دین په خدمت کې سرته رسولی دی.

وړاندیزونه:

۱: له ټولو علم ته منسوب خلکو څخه غوښتنه کوم چې د تل لپاره د هر چا له پې ځایه تورنولو څخه ځان وژغوري.

۲: خپلو اسلافو او په ځانګړې توګه د دین د امامانو په هکله له پې ځایه ویناو څخه ځان وژغورو، تر څو د هغه وعید لاندې را نه شو چې د دې امت وروستي خلک به خپل اسلاف په بده یادوي.

مناقشه:

له پورتنۍ څېړنې څرګنده شوه چې د حدیثو په اړه پر امام ابوحنیفه رحمه الله نیوکې بې بنیاده او د تعصب او بې خبرۍ پر اساس را منځته شوي، دا ډول بې ځایه ادعاګاني یوازې د امام ابوحنیفه رحمه الله په هکله نه بلکې د امام شافعي، مالک او یو شمېر نورو امامانو او پوهانو په هکله هم شوي او ځینو خلکو خو خپل تعصب تر دې حده رسولی چې د امام ابوحنیفه رحمه الله په هکله یې له خپل ځانه په ځینو کتابونو کې لاسوهنې کړې چې د امام ذهبي رحمه الله میزان الاعتدال یې ښه نمونه ده.

خلاصة البحث:

ان الامام ابی حنیفة رحمہ اللہ کان عالما و محدثا، ناول کثیرا من مسائل الفقه، و صار الاجتهاد من اهم فرائضه و مشاغله، و اما الاعتراضات التی قد ورد من بعض الناس فی قلة حدیثه، و ضعفه فی الحدیث، فلا التفات الی کلامهم، کما اجبناه فی صلب الموضوع، لان کل هذه الاعتراضات اما صدر عن متعنت فی حقه او اما ان یکون جاهلا باحواله کما ثبت لبعض من الائمة هکذا ثم لما علم بحاله اجتنب من الکلام فی حقه و اعترف بجلاله.

اخٹلیکونہ:

۱– ابن الصلاح، ابو عمر عثمان بن عبدالرحمن. (۱۹۷۸م). مقدمه ابن صلاح فی علوم الحدیث. لبنان: دارالکتب العلمیة بیروت.



۲– ابن حجر عسقلانی، ابوالفضل احمد بن علی بن محمد بن احمد. (۱۹۸۶م–۱۴۰۶ه). لسان المیزان. بیروت: مؤسسة الأعلمی للمطبوعات.

۳– ابن خلدون، عبدالرحمن بن محمد. مقدمة ابن خلدون.

۴– بغدادی، احمد بن علی بن ثابت ابوبکر الخطیب. الکفایة فی علم الروایة. المدینة المنورة: المکتبة العلمیة.

۵– ترمذی، ابو عیسی محمد بن عیسی. (۱۹۸۸م). جامع الترمذی. پاکستان: سعید ایچ ایم کمپنی ادب منزل.

۶– دارقطنی، ابوالحسن علی بن عمر. (۱۹۶۶م). سنن الدارقطنی. بیروت: دار المعرفة.

۷– ذهبی، شمس الدین ابو عبدالله محمدبن احمد بن عثمان. (۱۹۹۸م). تذکرة الحفاظ– لومړی چاپ. لبنان: دارالکتب العلمیة بیروت.

۸– ذهبی، شمس الدین ابو عبدالله محمد بن احمد بن عثمان. میزان الاعتدال فی نقد الرجال.

۹– سیوطی، جلال الدین عبدالرحمن بن ابی بکر. تدریب الراوی فی شرح تقریب النواوی، تحقیق وتعلیق الدوکتور احمد عمر هاشم استاد الحدیث بجامعة الازهر. لبنان: دارالکتب العربی بیروت.

۱۰– صمیری، قاضی ابو عبدالله حسین بن علی۱۸(م). اخبار ابی حنیفة و اصحابه. بیروت: عالم الکتب.

۱۱– عثماني، تقی الدین. (۱۹۸۵م). درس ترمذی، شپږم چاپ. پاکستان: مکتبه دارالعلوم کراچی.

۱۲– قاسمی، جمال الدین. (۱۹۸۸م). الجرح و التعدیل. دارالحدیث، شارع جوهر القائد امام جامعة الازهر.

۱۳– لکنوی، ابوالحسنات محمد بن عبدالحی. الرفع والتکمیل فی الجرح و التعدیل، درپیم چاپ. پشاور: مکتبة الدعوة الاسلامیة.

۱۴– نسائی، ابوعبدالرحمن احمد بن شعیب (۱۹۸۵م). الضعفاء والمتروکین. بیروت: موسسة الکتب الثقافیة.

له هلمنده يرغلګر په تيښته دي

حبيب مجاهد

هلمند ولايت دافغانستان په جنوب کې پروت دی ، چې دمساحت له لحاظه دافغانستان د ټولې جغرافيې لسمه برخه تشکيلوي ، دا ولايت چې ګڼې ولسوالۍ لري ، په وروستيو کلونو کې دامريکايي يرغل په خلاف دروان جهاد مهم ډګر پاته شوی چې دير غلګرو په اعتراف دافغانستان دبل هر ولايت په نسبت دير يرغلګر په کې وژل شوي دي.

هلمند ولايت ته دافغانستان دجګړې ديوه نماينده او ټاکونکي ډګر په نظر کتل کيږي او زياتره نړيوال مبصرين او پوځي څارونکي ددوه اړخيز نظامي وضعيت جاج دهلمند له جګړييز حالت څخه معلوموي .

په تيرو څو کلونو کې په هلمند ولايت کې په وړو عملياتو سربيره اشغالګرو په مکرر ډول ستر عمليات هم سرته رسولي ، په لسګونو زره پوځيان يې په دې ولايت کې دېره کړي دغه راز يې د کمپ باستن په نوم يوه ستره اډه په دې ولايت کې جوړه کړې ده ، خو له دې ټولو هڅو سره سره اشغالګر نه دي توانيدلي چې هلمند کنټرول کړي يا لږترلږه دمجاهدينو دورځنيو عملياتو کچه کمه کړي ، له همدې امله خارجيان په دې وروستيو کې مجبور شوي چې دافغانستان دنورو برخو غوندې له هلمند څخه هم پښې سپکې کړي.

په تير ۲۰۱۲ م کال او د ۲۰۱۳ م په تيرو دوو مياشتو کې دهلمند له زياترو سيمو څخه خارجي يرغلګر عسکر وتلي دي ، چې په دې ليکنه کې به په لنډو دخارجي عسکرو دتيښتې څرنګوالي او څومره والي ته اشاره وکړو.

موسی کلا ولسوالي

له موسی کلا ولسوالۍ څخه برتانوي يرغل په مکمل ډول وتلي ، دغه راز دامريکايانو هم له دې ولسوالۍ څخه ۱۰ قرارګاوې تښتيدلي دي ، چې له دې جملې دچغرا ، کاڼي مانده ، دهزور ، توغي ، کندر او رحمتي غونډۍ په شمول څو مهمې او سترې قرارګاوې هم په کې شاملې دي.

په موسی کلا کې فی الحال دخارجیانو پنځه قرارګاوې شتون لري ، چې هغه هم شاید په نږدې وختونو کې وتښتي ، دخارجیانو په وتلو دموسی کلا تر نیمایي زیاته برخه ازاده شوي دي ، او وضعیت دمجاهدینو په ګټه تغیر کړی ، په موسی کلا کې اوس فی الحال په امریکایانو سربیره په څو قرارګاوو کې دګرجستان عسکر اوسي ، چې دخپلو اصولو له مخې په هیڅ عملیاتو کې برخه نه اخلي اویوازې خپل وخت پوره کوي.

کجکي ولسوالی

په کجکي ولسوالی کې پخوا دامریکایانو ۱۷ قرارګاوې او پوستې وې او ۲ قرارګاوې دداخلي اردو وې ، په تیرکال کې دامریکایانو ۱۲ قرارګاوې په یو مخیز ډول له منځه تللي دي چې مشهورې یې داذان کشتي ، ځنګله ، کشتیبان ، مانده ، قاضي خپلو او ځینو نورو سیمو وې دغه راز په کجکي کې داجیري اردو ۲ قرارګاوې هم فتحه شوي دي ، په کجکي کې امریکایان اوس یوازې دولسوالی په یوه پیڅه کې په خپل مرکز کې پراته دي ، نور دا پراخه ولسوالی په بشپړ ډول تر ازاده ده ، دکجکي ولسوالی تر ۹۰ فیصده ډیره منطقه دمجاهدینو ترتسلط لاندې ده په دې ولسوالی کې هم دموسی کلا غوندې نه اربکیان شته او نه دداخلي عسکرو پوستې

ګرشک ولسوالي

ګرشک ولسوالي دهلمند په زړه کې موقعیت لري ، چې پراخه ولسوالي ده او ګڼ نفوس لري ، په دولسوالی کې امریکایانو خورا زیاتې قرارګاوې جوړې کړې وې چې یو شمیر یې اوس هم شتون لري ، په تیرو میاشتو کې دګرشک له مختلفو سیمو څخه دامریکایانو تر ۲۰ ډیرې قرارګاوې تښتیدلي دي ، چې زیاتره یې دحیدراباد له سیمې وتلي دي ، خو په دې سربیره لاهم په ګرشک کې زیات شمیر خارجي ځواکونه شتون لري ، چې دولسوالی په سطحه دخارجیانو او داخلي عسکرو دقرارګاوو شتون له تر ۱۰۰ هم اوړي.

په ګرشک کې امریکایانو ډیره هڅه کړې چې محلي عسکر یا اربکیان پیدا کړي تر څو ددوی تروتلو وروسته ددوی رول اداکړي ، خو دګرشک په ټولو ساحو کې ددوی دغه پروګرام ناکام شوی یوازې د نهرسراج او کمپرک په سیمو کې دوی توانیدلي چې یو شمیر کسان داربکیانو په توګه استخدام کړي ، چې شمیر یې خورا محدود دی ، او دامریکایانو له مرستې پرته دهیڅ مقاومت جوګه نه دي.

سنګین ولسوالي

له سنګین ولسوالی څخه هم په تیریوه کال کې دامریکایانو تردیرشو ډیرې قرارګاوې تښتیدلي دي ، چې له دې جملې دساروان کلا په ساحه کې دادم نیکه دسیمې ، توغي ، پایګاو ، کلاوال ، ملازو ، ګرماو او نورو سیمو قرارګاوې دیادولو وړ دي ، دغه راز د مرکزي سنګین او کاریزو له سیمو هم ګڼې پوستې او قرارګاوې تښتیدلي دي.

په سنګین کې دداخلي عسکرو یو شمیر پوستې شته چې اکثره یې په عامو لارو پرتې دي ، خو خارجیان تر ډیره له دې سیمې وتلي یوازې یې پنځه قرارګاوې فی الحال شتون لري.

دبابا جي او مالګیر سیمه

دگرشک ، نادعلي او لشکرګاه تر مابین ګڼ میشته سیمه چې دمالګیر او باباجي علاقې تشکیلوي مجاهدینو دیوې جلا ولسوالۍ اعتبار ورکړي ، په دې سیمه کې هم پخوا امریکایانو او برتانویانو پراخ شتون مګر اوس یې مجموعا ۳۰ مهمې قراګاوې له دې سیمې تښتیدلي دي ، چې ۱۵ یې دمالګیر له سیمې او ۱۵ دباباجي له سیمې وتلي دي.
په دې سیمه کې اوس دخارجیانو یوازې پنځه قرارګاوې شتون لري ، دخارجي عسکرو په وتلو سره ددې سیمې زیاتره برخې ازادي شوي دي ، او مجاهدین کولای شي له دې سیمې په نورو سیمو په دشمن باندې عملیات وکړي.

مارجه

مارجه ولسوالۍ چې امریکایانو په ۲۰۱۰ م کال کې دمشترک په نامه ستر عملیات ورباندې ترسره کړل ، چې ۱۵ زره امریکایي عسکرو په کې ګډون درلود ، دځو کلونو په تیریدو داسیمه اوس دامریکایانو دتیښتې شاهده ده ، دمارجي مجاهدین وایي چې په تیر یوه کال کې له دې ولسوالۍ څخه دامریکایانو ۸۲ قراګاوې او پوستې وتلي دي ، او اوس یوازې پنځه ستري قرارګاوې لري.
مارجه په هلمند کې یوازینۍ ولسوالي ده چې امریکایانو په کې تر یوه حده داربکي سازي پروګرام عملي کړی او یو شمیر اربکیان یې پیدا کړي دي ، ددې ولسوالۍ مرکزي برخې فی الحال دامریکایانو او داخلي عسکرو په ولکه کې دي ، خو دهیواد دیو شمیر سیمو تجربې ښیي چې دپاته امریکایي قرارګاوو په وتلو شاید اربکیان او داخلي عسکر هم دتیښتې یا تسلیمۍ لاره ونیسي ، لکه څنګه چې دهیواد په اکثرو برخو کې داسې شوي دي

نوزاد

نوزاد دهلمند شمالي ولسوالۍ ده ، چې پخوا امریکایانو په کې پراخ شتون درلود ، په تیر یوه کال کې له دې ولسوالۍ څخه دامریکایانو ۱۴ قرارګاوې تښتیدلي دي چې مهمې یې دکاریز ، شالوکۍ ، زمیري ، تنګیانو ، مشمش ، سرې کلا او نورو سیمو دي.
په دې ولسوالۍ کې فی الحال دامریکایانو ۸ قرارګاوې شتون لري او یو شمیر داخلي عسکرو پوستې هم شته ، اربکیان په دې ولسوالۍ کې هم نشته ، دنوزاد ۸۰ فیصده وطن فی الحال دمجاهدینو په لاس کې دی او که دامریکایانو قرارګاوې له منځه لاړې شي نو دولسوالۍ دبشپړې فتحې امکان شتون لري.
لوړ دهلمند دځو ولسوالیو لنډ مثالونه وو ، چې په څرګنده توګه معلومیږي چې له دې ولایت څخه امریکایي عسکر په تیښته او زیات شمیر یې وتلي دي ، له هلمند څه دخارجیانو په وتلو په جهادي وضعیت کې څرګند بدلون راغلی ، وطنونه ازاد شوي ، داشغال لمن تولې شوي ، خلک هوسا شوي ، دملکي خلکو تلفات او څور لږ شوی ، دمجاهدینو مورال او څواک ورسره خورا قوي شوی او ددښمن مورال سخت لویدلی دی.

۲۰۱۳/۳/۱۰ م

د توحید علمبر داران

اسامه بن زید رضي الله عنه

له صور من حياة الصحابه
نومي کتاب څخه

ترتيب: مولوي
ميرزا محمد (شکيب)

تر هجرت اووه کاله وړاندي چې مسلمانان لا په مکه کې اوسيدل ، رسول الله ﷺ او ملګرو يې د قريشو بې ساري تکليفونه وګالل او اسلام ته د بلنې په لار کې يې په خپل ژوند کې هغه غمونه او کړاوونه لکه کړې کړي ، څنګېر يو په بل پسې برداشت کول ، د نبي کريم ﷺ د ملګرو په همدې ستونزمن ژوند انه کې يو د خوښۍ ستوری وځليد.

نبي کريم ﷺ ته يو زيری کوونکی راغی او ورته وې ويل چې: د «ام ايمن» هلک پيدا شو ، د نبي کريم ﷺ په مخ کې د خوښۍ ښنبې څرګندې شوې او د تندي ګونځې يې وغوړيدې ، آيا دا هلک به څوک ؤ چې رسول الله ﷺ دومره وربانډي خوښ شو؟ دا اسامه بن زيد ؤ ، داخبره خلګو ته هيڅ د حيرانتيا وړ نه وه چې نبي کريم ﷺ په همدې کوچني ډير زيات خوشحاله ؤ ځکه خلکو ته د ده د مور او پلار هغه حيثيت معلوم ؤ چې د رسول الله ﷺ په وړاندي يې درلود ، د نوموړي کوچني مور (حضرت برکة الحبشية) وه چې په «ام ايمن» سره يې شهرت درلود ، نوموړې د رسول الله ﷺ د مور آمنه بنت وهب مينځه وه ، نوموړې د رسول الله ﷺ د مور په ژوند د ده پالنه کوله او د ده د مور له مرګه وروسته يې د رسول الله ﷺ ځارنه کوله.

کوم وخت چې د نوموړي سترګې پر دنيا خلاصې شوې او په ښه بد پوه شو له «ام ايمن» پرته يې بله مور نه پيژندله او دا يې لکه مور

داسي وه ، له نوموړي سره رسول الله ﷺ ډيره بې ساري مينه درلوده او ډيرځله خو به يې دا لاهم ويل: دا زما له موره وروسته مور او زما د کورنۍ يوازينۍ پاته غړۍ ده، دا د نوموړي بختور هلک مور وه او پلار يې بيا د رسول الله ﷺ محبوب زيد بن حارثه چې تر اسلام وړاندې رسول الله ﷺ په زوي والي نيولی وو ، د رسول الله ﷺ ملګری ، په پټو رازونو خبردار ، د کورنۍ يو غړی او له اسلام وروسته تر ټولو انسانانو وربانديګران شخص ؤ ، مسلمانان هم پر ده تر بل هر کوچنی څکه ډير خوشحاله وو چې هر څه به رسول الله ﷺ خوشحاله کاوه ، دوي هم په هغه ډير خوشحاله کيدل او هر څه چې به د رسول الله ﷺ زړه ته خوښې راوړله هغه به دوي ته د قدر وړ ؤ ، نو له همدې امله يې دې کوچني ته د «الحب ابن الحب» لقب ورکړ.

مسلمانانو په دې کې مبالغه نه ده کړې چې پر اسامه يې د «الحب ابن الحب» نوم کيښود بلکې رسول الله ﷺ له نوموړي سره دومره بې کچې مينه درلوده چې ټولو مسلمانانو پر همدې غبطه ورسره کوله ، حضرت اسامه رضی الله عنه د نبي کريم ﷺ د لمسي حضرت حسن بن فاطمة الزهراء تقريباً همزولی ؤ.

حضرت حسن سپين ، تازه ، ډير ښکلی او رسول الله ﷺ ته ډير ورته وو ، حضرت اسامه تورپوستی ، پيت پزی او خپلې حبشي مور ته ډير شوی ؤ ، خو رسول الله ﷺ يې په مينځ کې هيڅ توپير نه کاوه ، حضرت اسامه به يې پر يوه ورانه او حسن به يې پر بل ورانه کښينول او دواړه به يې په سينه پورې په يوځل منبل او ويل به يې: ای خدايه ! ﷻ زه دوئ دواړه خوښوم ته هم له دوي دواړو سره مينه ولره ، له اسامه سره د رسول الله ﷺ مينه دې کچې ته رسيدلې وه چې يوځل نوموړي د دروازې په درشل کې نوک ووا هه ، وغورځيد ، تندی يې وينې شو او له پرهاره يې وينې راتوې شوې حضرت رسول اقدس ﷺ حضرت عائشې رضی الله عنها ته اشاره وکړه چې وينې يې ورپاکې کړه د دې زړه دا کار نه غوښت ، نبي کريم ﷺ په خپله ورولاړ شو او پرهار يې ور وموړه ، وينې يې ورځخه پاکولې او زړه يې په داسي خبرو ورښه کاوه چې له ويلو سره يې خوږې تويولې او خوشبويي يې تله.

لکه څنګه چې د رسول الله ﷺ له حضرت اسامه سره هغه مهال مينه وه چې نوموړی کوچنی ؤ ، همدارازکله چې نوموړی ځوان شو هم د رسول کريم ﷺ ډيره مينه ورسره وه.

يوځلي د قريشو يو شتمن «حکيم بن حزام» يوه ډيره قيمتي جامه چې په يمن کې يې د سرو زرو په پنځوس ديناره اخيستې وه ، رسول الله ﷺ ته هديه کړه دا نوموړې جامه د يمن د يو پاچا «ذی يزن» وه ، نبي کريم ﷺ د نوموړي

هدیه قبوله نه کړه ځکه هغه مهال نوموړی لا مسلمان شوی نه ؤ بلکي په روپو یي ورځخه واخیستله ، هغه جامه نبي کریمﷺ یو ځل د جمعې په ورځ واغوستله او بیا یي حضرت اسامه رضی الله عنه ته ورکړه نوموړی به شپه او ورځ له خپلو مهاجرو او انصارو همزولو سره یو ځاي په هغه جامه کي ګرځیده

کله چي حضرت اسامه رضی الله عنه لوي سړی شو ؛ نو داسي خویونه او صفتونه یي په ځان کي پیدا کړل چي نبي کریمﷺ یي نور هم دې ته وهڅاوه چي له نوموړي سره مینه زیاته کړي ، نوموړی ډیر ځیرک ، حیرانوونکی زړور ، په هره چاره پوه ، ډیر پاک چي له هرې سپکي ورکي ځخه یي ډیر بد کیدل، ډیر مینه ناک او ستر متقي ؤ چي د لوي خدايﷻ ډیره مینه ورسره وه د اُحد د پیښې په ورځ حضرت اسامه بن زید رضی الله عنه د صحابه وو له یو ځو نورو کوچنیانو سره یو ځاي د نبي کریمﷺ حضور ته راغلل غوښتل یي چي جهاد ته ولاړشي ، نبي کریمﷺ هغه هلکان چي عمرونه یي لږ لوړ وو ، قبول کړل او ډیر کوچنیان یي بیرته رخصت کړل ، د شړل شویو په کتار کي حضرت اسامه بن زید رضی الله عنه هم و ، نوموړی په داسي حال کي له هغه ځایه بیرته ستون شو ، چي تر کوچنیو سترګو یي له دې امله د خواشینی اوښکي توئیدې چي د نبي کریمﷺ تر بیرغ لاندې یي جهاد ونه کړ.

د خندق د غزا په مهال یو ځلي بیا حضرت اسامه بن زید رضی الله عنه راغی او د صحابه وو څه کوچنیان ورسره وو ، نوموړي هڅه کوله چي رسول اللهﷺ ته ځان غټ وښیي ترڅو د جهاد اجازه ورکړي، نو له همدې امله پرجګو پښو ولاړ ؤ، د رسول اللهﷺ زړه ورباندې وسوځید او اجازه یي ورکړه ، نوموړي د جهاد توره واخیسته او پنځلس کلن ؤ ، چي جهاد ته ولاړ.

د حنین د غزا په ورځ مسلمانان مات شول حضرت اسامه بن زید رضی الله عنه د رسول الله له تره ، حضرت عباس رضی الله عنه او د ده د تره له زوي ، حضرت ابوسفیان بن حارث رضی الله عنه او شپږو نفرو نورو صحابه کرامو سره پاته شو ، نبي کریمﷺ وکولاي شواي چي د زړورو مسلمانانو په همدې کوچنۍ ډلې سره د مسلمانانو ماتي په بري بدله کړي او تښتیدونکي مسلمانان د کافرانو له شره وژغوري.

نوربیا...

د استشهادي بریدونو په اړه داسلامي نړۍ د ستر او تاریخي

اسلامي مرکز الازهر د اوسني شیخ دکتور احمد طیب فتوی:

احمد ضیاء بریالی

احمد طیب په ۱۹۲۴ م کال کې په مصر کې زیږدلی، په ماشومتوب کې یې قرآن کریم حفظ کړی، لیسانس، ماسټري او دکتوراه یې په عقیده او اسلامي فلسفه کې له ازهر شریف نه اخیستې دي، په ګنو پوهنتونونو کې د اسلامي زده کړو او اصول الدین د پوهنځي رئیس پاتې شوی، په ۱۹۹۹ او ۲۰۰۰ کې د اسلام آباد دنړیوال اسلامي پوهنتون د اصول الدین پوهنځي رئیس هم پاتې شوی.

په فرانسوي او انګلیزي ژبو بشپړ واک لري، له فرانسوي ژبې نه یې څینې کتابونه عربي ژبې ته ژباړلي هم دي، ددې تر څنګ د څه وخت لپاره په فرانسه کې د استاذ په توګه هم پاتې شوی، په ازهر شریف کې د حوار الادیان د ټولنې مشر، او همدا رنګه د اسلامي څېړنو د ټولنې غړی هم پاتې شوی، چې اوس یې مشري د ده پر غاړه ده، نومورې ټولنه په ازهر شریف کې د علماوو تر ټولو لوړه ټولنه ده.

د ۲۰۰۲ له مارچ نه د ۲۰۰۳ تر سپتمبر پورې د مصر د مفتي اعظم په توګه پاتې شوی، او په همدغه وخت کې یې له امریکایي ورځپاڼې (کریستیان ساینس مونیتور) سره په مرکه کې استشهادي بریدونه کوونکي تر ټولو لوړ شهیدان وګڼل، او له هغه وروسته بیا د ازهر پوهنتون رئیس پاتې شوی، تر دې چې ۲۰۱۰ کې د ازهر شریف د مشر او شیخ په توګه وټاکل شو، د ازهر شریف په تاریخ کې نومورې د ازهر ۴۳ تم مشر دی.

نومورې ګڼ کتابونه لیکلي چې یو څو یې د نومونې په توګه په لاندې ډول دي:

۱-مباحث العلة والمعلول من کتاب المواقف.

2-مفهوم الحرکة بین الفلسفة الإسلامیة والفسلفة الماارکسیة.

3-مباحث الوجود و الماهیة من کتاب المواقف.

4-مدخل لدراسة المنطق القدیم.

5-بحوث في الثقافة الإسلامیة بالاشتراک مع الآخرین.

6-تعلیق علی قسم الإلهیات من کتاب تهذیب الکلام للتفتازاني.

7_الجانب النقدي في فلسفة أبي البرکات

البغدادي

۸- نظرية المقاصد عند الشاطبي

9- مبدأ العلية بين النفي والإثبات

10- التراث والتجديد (بحث)

11- أصول نظرية العلم عند الأشعري (بحث)

په ۲۰۰۱ م کال کې د امریکا د بهرنیو چارو وزیر کولن پاول هوډ وکړ چې پر عربي نړۍ په دې نیت را وګرځي تر څو په فلسطین کې د یهودو پر ضد د مظلومو فلسطینیانو لخوا د استشهادي بریدونو په مخنیوي کې عرب مشران مرسته ور سره وکړي.

دخپل منصب له تر لاسه کولو وروسته دا د پاول لومړی سفر و چې د ۲۰۰۱ فبروري په میاشت کې یې پیل کړ، نومورې له المغرب او مصر نه په خپلو لنډو کتنو کې دې پایلې ته ورسید چې د عربي نړۍ په عام ذهنیت کې ژور بدلون رامنځ ته شوی؛ ځکه خو یې همدې بدلون ته په کتو سره د فلسطین دستونزې په اړه په خپل رسمي دریځ کې یو څه بدلون راوستلو ته اړ شو.

پاول المغرب هېواد ته د خپل سفر موخه داسې وښودله چې دی غواړي د عربو منځلاري مشران وهڅوي تر څو د فلسطینیانو له خوا پر یهودو استشهادي بریدونه وغندي، مګر د المغرب پاچا محمد السادس هغه وخت ځینې دیپلومان په حیرت کې واچول کله یې چې پاول ته وویل: (فکر نه کوې! چې لومړی قدس ته تګ مهم و؟) مطلب یې دا و چې که ته د دې موخې لپاره ماته راغلی یې، نو بنه دا وه چې ته خپله لومړی قدس ته تللی وای، هلته دې له لنډه د یهودو مرسته کړې وای، نه دا چې دلته ما ته راغلی وای!

کله چې پاول مصر ته لاړ په ازهر شریف کې لاریون کوونکو د اسرائیلو او امریکې بیرغونه په داسې حال کې وسوځول چې: (وسوځوئ، د امریکي بیرغ وسوځوئ) نارې یې وهلې.

پاول چې همغه وخت کله له حسني مبارک سره له غونډې بهر را ووت ویې ویل: (فکر کوم پر مونږ لازمي ده تر څو د انتحاري بریدونو دپای ته رسېدو ضرورت درک کړو)

مګر د عربي نړۍ منځلاري مشرانو هم په یو ډول د هغو بریدونو ملاتړ کولو چې امریکا ارهاب ګڼلو، او کوم چې علمای کرام دي هغوی خو یې بیا د روا والي خبره په زغرده وکوله، د ازهر شریف معاون شیخ محمد عاشور داسې وایي:

تروریزم هغه دی چې د هغو خلکو امن وګوابنې کوم چې آرام ژوند کوي، او د نورو له حقوقو نه ناوړه ګټه پورته کړي، او کوم چې جهاد دی، هغه بیا د هغه چا په وړاندې مقاومت دی چې د فلسطینیانو ځمکه یې نیولې ده، رسول الله صلی الله علیه وسلم وایي چې هغه کسان چې د خپل مال، عزت او خاورې د دفاع په لاره کې وژل کېږي هغوی شهیدان دي.

شیخ عاشور ټینګار وکړ چې په حقیقت کې اسرائیلو ټول اسلامي او مسیحي ارزښتونه تر پښو لاندې کړي، او له همدې کبله یې د مصر د دیني مرکز هغه دریځ تایید کړ چې د غه بریدونه استشهادي بولي، ځکه دا د خپل هدف د تر لاسه کولو لپاره سرښندنه نه ده.

د دې تر څنګ د مصر مفتي شیخ احمد الطیبب- چې اوس د ازهر شریف مشر دی- د

هغو کسانو په اړه چې استشهادي بریدونه تر سره کوي داسې وویل: (دوی هغه شهیدان دي چې د شهادت تر ټولو په لوړ پړاو کې ځای لري) همدارنګه له امریکایي ورځپاڼې (کریستیان ساینس مونټور) سره په مرکه کې د مصر مفتي شیخ احمد الطیب له فلسطیني استشهادیانو نه دفاع وکړه، او ددوی بریدونه یې د اسلامي اتلوال جهاد انځور وګڼلو، په داسې حال کې چې له مفتي احمد الطیب نه د خبرو پر مهال لوی لوی مشاورین را چاپیر وو، نومورې وویل: (بې شکه مومنان ځکه استشهادي بریدونه کوي تر څو نیواکګر صهیونستان د خپلو پلانونو په اړه بیا ځل فکر کولو ته اړ باسي)

نومورې د خپل دریځ د ښه روښانه کولو په موخه داسې پوښتنه وکړه: (که چېرې جرمني پر لندن برغل وکړي، نو آیا بریتانوی ولس به د ځان قربانولو ملاتړ و نه کړي؟)

الشرق الاوسط ورځپاڼه، ګڼه: ۸۵۳۵، کال: ۲۰۰۲د اپریل ۱۱، پنجشنبه

http://www.aawsat.com/details.asp?issueno=8435&article=97748

الجزیرة سعودي میشته ورځپاڼه، ګڼه: ۱۰۷۹۱، د اپریل ۱۵ دوشنبه

http://www.al-jazirah.com/2002/20020415/r85.htm

دلته څو ټکي د پام وړ دي:

۱. د لومړي ځل لپاره د استشهادي بریدونو په وړاندې په رسمي ډول غبرګون د امریکا له لوري را څرګند شو، او دا ځکه چې په اسلامي نړۍ کې د امریکې ناوړه پلانونه د همدغه استشهادي مبارکو بریدونو له کبله ګوابنل کېږي، دوی تر بل هر چا زیات پوهېږي چې استشهادي بریدونه له یوې خوا د مظلومانو په زړونو کې د غچ او انتقام تونديې او ژوړې څپې لا پسې د پیاوړتیا او پراختیا په لوري هڅوي، او له بل پلوه د ظالمانو پر سر تندرونه د آسمان دي؛ ځکه خو امریکا آن په ۲۰۰۱ م کال کې د استشهادي بریدونو د مخنیوي لپاره ناکامو هڅو ته لاس واچولو.

۲- که څه هم چې امریکې په ښکاره له اسرائیلو سره د خواخوږۍ د ښکاره کولو لپاره دا کار پیل کړ، مګر په حقیقت کې یې د خپل ځان غمه خوړله؛ ځکه دوی مخکې له مخکې پر افغانستان او عراق د یرغل هوډ کړی و، له همدې کبله دوی پوهېدل چې له مونږ سره به هم خامخا ورته چلن کېږي، نو راشه اوس له اوس نه یې دلته د مخنیوي لپاره لاړې چارې ولټوه، مګر الحمد لله چې د دوی دغه ناوړه او شوم پلان بریالی نه شو.

۳- امریکه په دې ښه پوهېدله چې که دوی هر څو د استشهادي بریدونو په وړاندې تونده غبرګون ښیي په همغه کچه یې د توپاني څپو تونده والی پراخېږي، ځکه خو یې هڅه وکړه چې د دغه کار لپاره د اسلامي هېوادونو مشران او چارواکي وکاروي

همغه و چې خارجه وزیر کولن پاول لومړی المغرب ته مخه کړه، تر څو له هغه ځای نه یې را پیل کړي، مګر کله چې هلته د المغرب پاچا له تونده غبرګون سره مخ شو نو یې مخه مصر ته کړه، هلته که څه هم چې د مصر حکومتي چارواکو په ښکاره سر ورسره وخوځولو، مګر مصري ولس او د ازهر شریف علماوو یې

سخت مخالفت وکړ، چې تر ټولو زیات د یادولو وړ یې د دکتور احمد الطیب دریځ و، کوم چې هغه وخت د مصر مفتي اعظم و، او اوس د ازهر شریف ستر او مشر شیخ دی.

نوموړي په زغرده وویل چې استشهادي برید کوونکي د شهیدانو په تر ټولو لوړو پراوونو کې ځای لري، او مسلمانانو ته همدا یوازینۍ لاره پاتې ده چې د خپلې خاورې، مال او ځان دفاع پرې وکړي.

